# د پښتو متلونه

پښتو ټولنه

۱۳۶۴

Download From: Aghalibrary.com

AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00030816 2

# د پښتو متلونه

پښتو ټولنه

مهتمم: محمد دین ژواک

PROPERTY OF ACKU 30816

دچاپ شمیره (۲۰۰۰)

Download From: Aghalibrary.com

# پښتو متلونه

پښتو متلونه د پښتو د شفاهي ادب یوه غوره برخه تشکیل کیږي.
دا متلونه له ډیرو پخوا څخه موجود او زموږ د نیکونو
غوره قیمتي تللي او پخې وینا وې دي چه د نیکونو په
شان خوله په خوله تر دې وخته رارسیدلي دي.

د پښتو متلونو د ویلو تاریخ هم د لنډیو په شان معلوم
نه دی او نه یې ویونکي معلوم دی

بلکې په هره زمانه کښې ویل کیږي او هر څوک یې وایي.
متلونه د ټولو پښتنو د خولې مرغلرې دي چه خورې
ورې د خلکو په ذهنونو کښې پرتې دي. د متلونو عبارت خوندور
لنډ او یو لوی مقصد پکښې ځای شوی وي. پښتو متلونه
که څه هم زیات په نثر کښې شاملیږي مګر ډیر یې وزن
او قافیه هم لري.

له متلونو څخه د هر قوم د پوهې تجربې او فکري
لوړتیا اندازه معلومیږي ولې چه متلونه هغه پخې خبرې

دی چه له ډیرو تجربو څخه ورو سته په لاس راغلی - او د ژوندانه لار ښوونکی ګڼل کیږی متلو نه په و ینا کښې خوږوالی او قوت پیدا کوی او عبارت پرې ښایسته کیږی.
داو جه دهٔ چه شاعران او لیکوال یی په خپلو و ینا و کښې راوړی او داد بدیع په فن کښې یو صنعت ګڼل شو ی دی

دمتلو نو پیژندنه دوې خواوی لری یوه داچه دو یلو اصلی ځای او پیښه یی سړی ته معلو مه شی او بله دا چه د استعمال ځای یی و پیژندل شی . لومړی معنی یی حقیقی او دو همه یی کنایی او مجازی ده. مثلا ددې متل «مات لا س غاړې ته لو یږی» حقیقی معنی هم موجوده ده ولی چه د چا لاس خو ږ او مات شی نو ر شتیا یی غاړی ته اچوی او مجازاً په داسی ځای کښې ویل کیږی چه یو عاجزاو بی وزلی سړ ی دخپل ځان غم په کوم ما لدار یایو مشر باندی ا چـو ل غواړی.

پښتا نه متلو نو ته ډیر اهمیت ورکوی هرمتل ورته د کاڼی کرښه ښکاری اوهغه یو پوخ اوغښتلی دلیل بو لی - پښتو متلو نه د پښتنو داجتماعی ژوندون پوره نما یندګی کو ی.

د پښتو ملتو نه ډیر او په ز یات اند از ه د ی ا و لکه

دلنلې يو په هره خوا كښې په بيل بيل ډول دخلكو په سينو كښې پـراته دي ·

د پښتو متلونه ډېر پخواني او لر غوني معلو مېږي ځكه چه دمتل جوړيده او شهرت ډېر زمانه غـوا ړي او ډېرزر دمتل حيثيت نه شي موندلای ·

دغه شان ښايي چه دمتلونو په عبار تونو كښې هم ډېر تو پير نه وي راغلی ځكه چه دمتلونو عبارت او لفظ ديو روايتي متن په توگه په خپل اصلي رنګك ساتل كيږي اود زمانو بدلونه يكښې زيات تغير نه پيدا كوي ·

دپښتو هر متل لكه دلنلۍ يو ځانله خپلواكي مضمون يا په بله ژبه ديوی پيښی او واقعی لنډيز دی· دپښتو يو څو متلونه دا دي :

چې بدګرزي بد به پرزي

له پروت زمري نه ګرځنده ګيدړ ښه دی

ژرنده كه دپلار ده هم په وار ده

كه غرلوی دی په سر يـی لار ده

دلته غويی اخر خاوند قصاب دی

د بهر له ګټندوی نه دكورو ټندوی ښه دی

د پښتو متلونه تراوسه پوري ټول نه دي راغونډ شوي او لکه د پښتو ادب د نورو مرغلرو په شان د پښتو نخوا په غرونو اودرو کښې لا هماغسې لکه لالونه پټ پراته دي پښتو ټولنې له پخوا څخه د پښتو متلونو د راغونډولو په کار لاس پوري کړی دی د پښتو متلونو لومړی مجموعه په (۱۳۱۸) کښې خپره شوه په دوهم ځل یوه بله مجموعه په (۱۳۲۷) کال کښې د چاپ میدان ته راووتله چه ښاغلي محمد ګل نوري ټوله کړې وه، مګر په دغه مجموعه کښې له ادبي چو کاټ نه وتلي ناسپیڅلي متلونه هم راغلي وو. او ځینې لفظي کمزوري پکښې هم ښکاري وې نو د پښتو ټولنې داد بیا تو څانګې د دغو متلونو پوره سمون او سپیڅلتیا ته ملا وتړ له نوي متلونه یې هم راټول کړل او په نوي شکل یې د چاپ دپاره تیار کړل د دې مجموعې د متلونو شمیر (۲۷۹) ته رسیږي د دې متلونو په ترتیب او چاپولو ښاغلي حفیظ الله خان او ښاغلي ژواک پوره زیار ویستلی دی چه زه د دواړو زیار او زحمت د قدر په سترګه ګورم او د ځان او د دوی د پاره له خدای څخه د پښتو ژبې د زیات خدمت توفیق غواړم .

« رشتین »

# الف

☼ابا کور نشته، له‌ادې ډار نشته .

ابامه ګوره، خور جین ئې ګوره

ابااو بو یوور، ویل ئې ابا څه کوې، غاړې غرونه ئې یووړه .

ابۍ زړه شوه، له شوقه ونه لوېده .

☼اتڼ وهه شېړ داده، نن بیادچرګک شیروادہ. (۱)

اتڼه وران شې، چه امرالدین دې نارې کوی. (۲)

---

(۱) ـ شیروا یوه لهجه ده . چه د بښوروا په عوض ویل کیږی .

(۲) ـ دامتل دکندهار په خوا کښې شهرت لری .

۞اختر پټ میږه نه‌دی.

اختر تیر شو ، منتایی یې هیره نه‌شوه

اختر دیوه سړی نه‌دی .

اخر عمر دخواری ده دی .

اخښی چه روپۍ شیندی ، دکلی ټولی پیغلې به ئې خدمت کوی

اخښی چه‌جیب تړلی وی ، په خوابښی او‌خوښینی یې قدر خوړلی وی .

اخوریې جوړ کړ ، ویل یې اس به‌خدای راکړی .

۞ادب له بې ادبه زده کیږی

ادب له زخمه‌اخیستل کیږی .

آدمخان‌دې په خیال‌ګوروان درغلی دی

ادې‌چه‌زور وره ده ، دبابا دزوره‌ده .

ادې مه ئې پوکه ، چه سړیږی .

۞ارزان بې علته نه وی ګران بې حکمته .

ارمان به کړې‌هلکه ، بیابه نه‌مومې ادکه .

ار مان چه ورو ستی عقل لومړی وای.

اره اره، یوم پرغاړه . (۱)

✿اړستر ګې نه لري .

اړه په اړه خلا صیبري .

✿ازاری ته په ازارولو ګناه نشته .

ازمو یلی خوك نه ازمویي .

ازما یلی بیامه ازمایه .

ازمو یښت اول په کال او تلین ۋ اوس دم په دم دی

✿اسان ئې نا لول ، چو نګښو هم پښې پور ته کړې

اسمان لرې، مځکه سخته .

اسمان چه ګرزیږی، هومره نه اوریږی .

اسمان به ولاړوی، لاټ به مرداروی .

اسمان چه وریځې شوروی، باران به وکړی

کونړه چه ستر ګی توروی، مېړه به وکړی .

اس مې در کړ، خو پړې سپړیږې به نه .

(۱) دا متل د کندهار په سیمه کی ویل کیږی اره اره دلته دزراعت

کروندې په معنی دی .

اس خپلې ور بشي خپله زیا توی .

اس پردی . سپور پرې میری .

اس دې له بله ، لښته دې له څنګله ، چه نن یې نه زغلوی ، نو لا کله .

اس لره، په لاس لره .

اس ششنی ،خرږ اییی ،غاتری نو رې بلاوایی (۱)

اس که ټکنی دی، میدان لنډ دی.

اس چه خدای خواروی، نو یې یابو کړی.

اس ئې هغو ته ورکړ ،چه دتا ننګ د ټرلو ئې نه ؤ .

اس ئې په خره بار کړ ، خر ئې پرې مردار کړ .

اس چه دخر وسره و تړی ،خر ئې خوی زده کوی .

اسان یې په سوو ګټی، مېړونه ئې په خو لو ګټی

اسپاوان چه تسپې اړوی ، ژرنده ګړی خطا کوی .

اسیل په ګلوله کښې ، کم اصل په ګزبره کښې . (۲)

(۱) دا متل دکندهار دسیمی دی .

۲ : دامتل دکندهار دسیمی دی .

اسیل چه خوار شی نه خاوری کیږی

اسیل کوټیور، کم اسل خپرور.

اسیل نه ور کیږی.

اسیل ته اشارت، کم اسل ته کوتك.

اسیل ختا نه لري، کم اسل وفا نه لري.

اسیله ځان دي کچه کړ، چه پر تو کډي الچه کړ.

اشه‌بنه ده که کوله، مه ئې یوه وینې مه بله.

✡ اغز ی له اولې ورځې تېره وی.

اغوندهګلوله، خو، له‌پوره څخه زغله.

✡ اکویو په بل پوری پکو.

✡ الا بلا به ته کړې، لوراوزوی به پرې ماړه کړې. دمولا جواب به څه کړې.

الف که څه نه لري، بې هم لښکر نه‌لري.

الحمدهغه‌الحمدده خو، خوله‌دملاعثمان غواړی (۲)

(۱) دا متل دکندهار خواته دا ډول ویل کیږی: الم نشرح هغه

الم نشرح ده خو، خوله دملا عثمان غواړی.

الو په شلتالو نه پیوند یږی

۞ امانت مځکه هم نه خیانتوی

امانت اوبښ په نوا له نه وی اموخته ٠

اموخته خور ، بلا خور ٠

اموخته خور ، ښه دی که میراث خور؟ ویل یې:
اموخته خور ٠

امیر یې ورکوی، شیخ میر یې نه ورکوی

امیر چه ظلم کاروی، اوربل په ټول دیاروی ٠

۞ اناسپره، کټوه یې باندې ٠

انا مړه شوه، تبه یې وشلیده ٠

انبار دې وی، خروار دې وی

انسان، تابع داحسان ٠

انسان تر کاڼی کلك ، تر گل نازك ٠

انسان بې وزره مرغه دی ٠

۞ اوبازیم،خوبې ګو دره نه ګلهیږم ٠

او بوا خستی ، ځګ ته لاس اچوی ٠

او به په او بو، شیدې په شیدو ٠

او به په ړانګک نه بېلېږي .

او به په ساره ځي، نه په جګو الی .

او به پورته وهه، کښته ئې لا ر ده .

او به چه ترسر تېرې شي، څه يوه نيزه څه دوې نيزې .

او به په کمزوري ورخ ماتېږي

او به د سر له خوا خړېږي .

او به که بر ی دي، تر پله لرې دي .

اور او او به نه سره يو ځای کېږي .

اور ښې څه په مځکه کښې، څه په جوال کښې

اور ښې که در ورپسې سل منه شي، د خره په کښې يوه لپه ده .

اور ته خپل او پردی يو دی .

اور له خپلې لمنې لګيږي .

اوږه دې په اوږه منت دې پر څه .

اوږه په موټی، غوږی په ګوته

اوږه خيشته پيشته کړي، منت پر تناره کړي

اوږه د ميچني، زوی د خچني .

اوږه که تمام دی، پيمانه خو يې پر ځای ده .

اوړه يو موټی نه لري، تنور ئې پر بام جوړ کړی دی.

اوړه ئې يو موټی نشته، شل ئې تنوروونه دي

او سپنه په او سپنه ماتيږي.

او سپنه چه څومره ټکيږي، هغومره پخيږي.

اوس دې اوښې کړې، چه دماشو پروړه دې پرې وخوړه.(۱)

✡اوښان نه ژاړي، بارونه ژاړي.

اوښ په خپلو متيازو کښې ګوډيږي.

اوښ په سر باري نه درنيږي.

اوښ په غلبيل نه درنيږي.

اوښ تر پولې لاندې نه شي پټيدلای.

اوښ په بلوه نه وهل کيږي.

اوښ له باره ولويد، له بړبړه ونه لويد.

اوښ چه يې په نته کړ، نو يې اورته کړ.

اوښ دې او سار کړ، نو دې په لار کړ.

اوښ ته ئې ويل الغبندي وکه، ده ويل په کومو لاسو.

اوښ ته ئې ويل لوړ ښه دي که ځوړ؟ ده ويل دواړو دې بيخ ووځي.

---

(۱)- دماشو پروړه ته په ننګرهار کښې کټوي وايي.

اوبښ ته یې ویل لوبې و که، دهجړو نګان له بیخهوکښل .

اوبښ تهیې ویل غاړه دې کږه ده ، ده ویل کم ځای مې سم دی .

اوبښ چه ولاړ ، مهار یې زه څه کوم .

اوبښ که غټ دی هم دشیدوتمه ترې مه کړه .

اوبښ که هر څونه لوی دی الوتی نهشی .

اوبنه ! هر څه دې بې هوښه .

اوګره په تلوار نه سړیږی .

اوګره چه سړیږی ، بلاپرې لګیږی .

او ګره ځنی توی شوه ، ویل یې په نصیب مې نهوه .

اوګره مودر ته ساتلی وه.خو بیا ته نشوه .

اول اتام ، پسې سلام .

اول ځان ، پسې جهان .

اول حق د ګاونډی دی .

اول زده کړه ، بیا کو زده کړه

اول سلام ، بیا کلام .

اول میړانه په سیالی وه، اوس سپیتانه په سیالی ده .

اول مې نه خوړې هزار سلاخې (۱) اوس دخوار پلاو محتاج یم .

اول همیانۍ ګوره ، بیا نو شی رانیسه .

✿ ایلچی ته نه بندشته ، نه زندان .

ایړا پور غواړی ، بیړانو رغواړی .

# ب

✿ بابا به ویل . ادې به منل .

بابا چه غلا کوله ، اول به یې له ملا کوله .

بابا حلالوه پوخی (۲) یې مه حلاله .

بابادې خدای و بخښی ، منګرد سهار په لما نځه کښې سست ؤ .

بابا که لمونځ نه کاوه ، کفر یې هم نه وایه .

بابا که کار کم کاوه ، بیا یې محکم وایه .

باباګیلی کوی، ادې پیرې کوی .

(۱) هزارسلاخه یوډول ډوډۍ ده چه ویشلی یې هم بولی .

(۲) پوخی دودی معنی لری .

با با لري مېواده کړه چه ستا کنډولي واړه کټوری کړم
با چهان چه دا و کړي پیروی خوری وس یې رسپړی .
باچهی باچهانو لره ښایی ، لویی خدای لره .
با دچه پاسنی شی ، د باران دستی شرنګی شی .
باران په تیرا ، وشو ، خره یې دلړه موړې یوړه :
باران وشو چاکو نه پټ شول .
بارونه یې تړل ، او ښانو ژړل .
باریې به شانه شو ، وړای یو لرګی یې بل پر کښېښود
بازار ته څه وړې ، و یل طالع .
باز چه خپله ځاله پر یږدی ، ځای یې دپاچا منګول شي .
باز چه هر څو مره خوارشي چونګښې نه خوری .
باغ چه لابښ شی . باغوان یې خوارشی .
باغ د باغوان دی ، ژر نده دژر نده ګړی .
باغ که باغوان لری ، چغال (۱) هم خدای لری .
✲ بټی کوټی چه خوار شی ، نرۍ وریجی خوری . (۲)
✲ بخت په ټنډه دی ، نه په منډه .

(۱) چغال ته سور لنډی هم وایې .
(۲) دامثل د ننګرهار دخوادی بټی کوټ دیو ځای نوم دی .

بخت چه دزور مل شي ، هر كار يې جلبل شي .

بخت چه كوټه شي ، باچهان ټكري خوري .

بخت په كوټۍ دی يا په كوڅۍ .

بخښښ په لك ، حساب په كك .

بد بانجن اپت نه لري

بد بوټی بلا هم نه وهي .

بد به دې په زړه لرم ، سلام به دې په خوله لرم

بد به يم ، نه له ورور سره .

بد په بلا اخته ښه دی .

بدتر بور په بده ورځ په كار يږي .

بدزوی ، نه زوی .

بدعادت چه زور ور شي ، عقل مرور شي .

بدمه را سره كوه ، ښه دې نه غواړم .

بدمه كوه ، بد به نه وينې .

بده ماينه پر ښوله كيږي ، بد كښت نه پر ښوول كيږي

بده ماينه ، تنكه موچڼه ده .

بده ماينه كړه لښته ده ، ماته به شي سمه به نه شي .

بده ورځ كله كله وي .

بدیار ان په بده ورځ په کار یږی .

بدی پر بدی واړ ښت ، بدی تڼلو تري لا ندي و اوښت .

بدی چه نه کړی بدي چاري ، بدی به چاواژه پر لاري

✿ بلای يې له خوراه تښی ، خواري يې له بلایه .

✿ بر بنلوله لاري اوړی ، اووړی نه اوړی .

برج دې تر آسمانه ، سپی دې له لوږی مری

برج مې جوړ اوه رانه ګاد انه شوه .

برخی تولي ازلی دی ، نه په زور نه په زاری دی .

برخی ویشه ، میړو نه ګوره .

برمته ، د بدی با نه ده .

بره يې وهه کوزه يې لار ده .

بریت ښه بریت دی ، خو په خوشی شونډه ولاړ دی .

بريې شته ، بر کت یې نشته .

✿ بزه په خپل ښکر نه در نیږی

بزه چه پر بام و خیژی ، لیوه ته هم ښکنځل کوی

✿ بلا بیده ښه وی ، نه ویښه .

بلا چه په مخ ونه وهی ، پر شا نه وهله کیږی .

بلا پە مخ و هلە کیبری نە پەشا .

بلا لە هغە پا ښی، چە یې ګړ نګک تــر پزی ښا ښی .

بلا لە خپلې لمنی پور تە کیږی .

بلاوە بر کت یې نەو.

بلاوە کە بلا ګی، ا بایی مړ کە پە چوړ کی .

بل تە ګو تە نیول کیږی اوګان تە نە .

بلخە بې تمیزه، لالی راغی بې کمیسە.

بلمی،خور ولی .

بلمنګی خواړە دی،لە پرد یوخە ما ښەدی .

✡ بنیا د م یو نور، جامە یې دوه نوره .

بن بەدې تندی وهی، یور بەدې لینګی و هی .

بندە اریان،خدای مهربان.

بندە راشە دخدای خپل شە،لکە پرګان هسی پە بل شە.

بندە چەدا دکړی، نو بیا یې یادکړی، الله چەدادکــی

نو بیا بی ښاد کــی .

بنده لري نښلولې، مرګی لاریورتـه نیولې .

بنده وترل باروته، مولا وکړه خپل کار وته .

بنیادم بېوزره مرغه دی

✲ بوچ له اختره خلاس دی .

بورې هم ژ اړی، وراړې هم ژړای .

● بیاله که ترر وډ لاندی؛او به ځی پکښې بها ندی .

بی چرګه به هم سباشی .

بې ډوډی اوسې، بې کوره مه اوسې .

بې ډوله مه ګلېږه .

بېډی په نوت چلیږی

بې ز حمته راحت نشته .

بېزاره دې دخیره، خوسپی دې درګرزوه .

بې سته ځوك جنت ته نه ځې .

بې ښځې سړی ښه دی، نه په کورکښې همیش جنګ

بې عقل دونه په بل نه کوی، لکه په ځان .

بې عقل جمال خو ښوی عاقل کمال .

بې عقل زوم دخوانې په باټو ختا وزی .

بې ګو دره مه ګلېږه .

بێ کاری لنگیرێ، خواری تڕێ زیزی ·

بێ کاری دبد بختی ڕزا نکودە ·

بێ کسەبدێ نەشی پالای ·

بێ گودرە چەگلە یڕی، خود بە یێ سینوڕی

بێ ما دێ شل نە کڕە ·

بێ مزدە کار مێ نە زدە، چە مزدراکێ کارمێ نبەزدە

بێ مێوێ و نە خوک پەڕبرە نەولی

بێ وختە میلمەیێ لەخپلە بختە خوری ·

## پ

✲ پاڕو گردما رلە لاسە مری

پاک اوسە، بێ پاک اوسە

✲ پتەوم، پتە بەعم ·

پڕ اخوند نبوڕو اهم ڤیرەدە ·

پڕ اوبن سپور، سپیی وخوڕ ·

پڕ پچە وخوت، کشمیر یێ ولید ·

پڕ پوست سیکە نە وهلە کیڕی ·

پرخره یوه لپه اور بشي ۆ ېر ېدی·

پرخره سپور، خرغنی ورك·

پرخوار مړې دقران ختم نه کیږی·

پرخوږه مځکه هر وابنه شین کیږی ·

پردی خر، شل منه وږی ·

پردې غم تر واورې سوړ دی·

پردی خر، په شاز ورور دی·

پردی زوی، نه زوی ·

پردی سپی · په ږوږی خپل ·

پردی جنګ، نیم اختر دی ·

پردی کټ، تر نیمو شپوری ·

پردی غوښه په ځان پورې نه نښلی ·

پردی موچنه پرپښه معلومیږی ·

پردی مال نه خپلیږی ·

پردی مور مه کړی سود منه، چه سل ښه ور سره و کړې،

دا به تل وی ګیله منه ·

پردی ږوږی تر زر منه تیږې لاندې ده ·

پر دی ور کړه، نیمه خواده ۰

پر دی خوا ړه یا پور دی یا پېغور ۰

پر دو، ترو و ته او کره مه پخوه ۰

پرړانده شپه او ورځ یوه ده ۰

پرسر مې دې زړوکی وی، تر مخ مې دې زلمی وی ۰

پر ښو تلوار، پر بدو تامل ۰

پر کور ننګ نیم من دا نه دېره ده ۰

پر لخه خپته یې ملا تړ لې ده ۰

پر لوړه وخیژه خار و کړه، څوچه نو ر کړی هغه چا رو کړه ۰

پر ملا یې لمبول دی، په خدای یې بخښل دی ۰

پر هغه دې خدای مېلمه که، چه مېلمه یې نه وی لیدلی ۰

پر یوه سړی چه دوه شی، رڼا ورځ پرې توره شپه شی ۰

✲ پړمې کړه، مړمې کړه

پړهم و راشه لری ۰(۱)

✲ پژ پر یکړی که شرم در لودای، دچړې نوم به یې نه اخیست ۰

✲ پسرلی دی ځان ا ګاه کړه ، ځان ته ژیړه غوا پید ا کړه ۰

(۱) ــ و راشه ــ اخلاق ۰

پس له واده څوك سندرې نه وایي.

✽ پښتون سل کاله پس وا روا خیست، ویل یې چه اوس مې هم تلوار وکړ.

پښ موړ شو، چه پاته یې کور شو.

پښه مې دې پاس وي، که په خره وي، که په اس وي.

پښې هلته ځي، چه زړه ځي.

پښې لوڅې ښې دي، نه تنګې موچڼۍ.

✽ پلك په پمن پورې خاندي.

پلك نه په‌سر تار لري، نه په چا کار لري.

پکه دادې لا بله سپکه.

پکې سر په خیال کې چه میړه یې شا باز خان دی.

❀ پګړی چه له سره ولویږي، په اوږو تکیه شي.

❀ پلاری کړه، خو په لار یې کړه.

پلار یې ګټې، زوی یې خټې.

پلار یې په اته، زوی یې په شپیته.

پلار ګټلی، زوی ته هیڅ دی.

✽ پټلی یې مه ګوره، ایمان یې ګوره.

پنځه‌ګوتې سره برابرې نه‌دي.

پنځه‌ګوتې په‌خوله مه‌منډه.

پنځه‌چرګانې په یوکورکښې ښې دي، نه یونسواري.

☆پورپه غاړه، میړه مرداره.

پورچه ترسل تېرشو، وچه یې مه خوره.

پورچه پرکوي، لورلري.

پورچه ځنډوني شي، خوردني شي (خندني شي).

پورچه ځنډوني شي، جنګني شي.

پورپه نه‌دولت حساب دي.

پورپه ورکړه خلاسیږي.

پورته‌ګورم پانې دي، کښته‌ګورم پړانګ‌ دي.

پوردې پور، منت دې نور.

پور که دېلارشي، خواږه پرې حرام شي.

پور ورېې به‌له نیستمن نه‌څه یوسي.

پور ورکړي، غلیم وژلي.

پوره ورك دې کړه، دوه کوره.

پوستین یو تودوي، بل نه‌ځایوي.

☆په‌اوړي یې ګټه، په‌ژمي یې خته.

په باد راغله ، په باد ولاړه .

په یارانه کښې تل بنګړې ماتیږي .

په باغ کښې الو ، په کلی کښې باړغو (۱)

په باران پسې پټې ګرزوي ، په خیرات پسې شکري .

په بد نیت کلی نه ړنګیږي .

په بد زوي بنه اپلار یادیږي .

په بدلو غوښه نه لوییږي .

په بل وطن کښې دښوکښت کوه تیریږه .

په پټه خوله څه نه کیږي .

په پردي کورسل میلمانه هیڅ دي .

په پردي مال غوانی نه کیږي .

په پردي ملك خانی نه کیږي .

په پو ښتنه سړی مکی ته ځی .

په تیاره کښې خپل سیوري هم نه ښکاریږي .

په تیاره پسې رڼاده .

په مرګ یې و نیسه ، چه په تبه راضي شی .

(۱) به لرغو ـ ایله ګرد

په تیر پسې تر تا ب نشته .

په تش ګومان، بد بخت وځوړ خپل ایمان .

په تش لاس چه اخلاص کړی، ځوك به خلاص کړی.

په ټول بابړ، یو لوړ

په جنګك کښې مړی کیږی .

په جنګك کښې یوګام دسلو کلو لار ده

په ځنګله کښې یې وزیږوه، په بازار کښې یې لوی کړه

په مځکه کښې چه کانړی یـال وی ، د بـاد اریې تش جوال وی.

په ځاځکی ځاځکی ډنډ جوړیږی .

په چاچه دخدای نظر شی، تورې خاورې ورته زرشی

په چغل کښې او به نه دریږی

په غلبیل کښې او به نه راوړل کیږی.

په خپلو خپل، په پردو پردی .

په خپله خر نه لرې، دبل په اس پورې خاندې

په خپله ډوډۍ موړ، په کلی نازولی.

په خپل کور میږی هم زورور دی .

په خواری څوك بدنه ایسی ، په بی کاری بد ایسی .

په خوراك ئې نه یم ، په خرپ یې یم .

په خوله لااله ، په زړه غلا .

په خوله خوږ ، په زړه کوږ .

په خوله دې شین پسرلی ، په زړه دې کړ نګك ژمی .

په خوله صاف ، په زړه خلاف .

په خولې تنګک ، په ګیډه لوی .

PROPERTY OF ACKU 30816

په درنو درو ند ، په سپکو سپك .

په در ستر خوان هرڅه زمری دی .

په دوه بیړیو پښې مه ږده .

په دنیا باور مه کوه ، ګاهی لوړ دی ، ګاهی ځوړ .

په ډیرو کښې یې خوره ، په لږو کښې یې ویشه .

په ډیر ولیو نی خوښ دی .

په رنګک ښایسته ، په عمل ځو ارخسته .

په زند و کښې چیك اغا دی .

په زند و کښې یو ستر ګی پاچا دی .

په زړه هوښیار ، په خوله بی کار .

پەژر ندەکښې دې‌شپه شه، دز وم کره دې مه‌شه .

پەسپین سر، مزل پەسر.

پەسپی دخاوندزړه بدیږی.

پەستړې مه‌شی، دچا څه‌شی، زړه پرې ښه‌شی .

پەستر ګوګورې، په زوی لوړې .

پەسړو کښې تو پیر دی، څوك لال دی، څوك کورت کاڼی.

پەسړه سینه‌چه کیږی، په جنګك کله‌مو ندل کیږی.

پەسلو وهلی ښه‌دی، نه په یوه پړ.

پەشرم هغه‌شرمیږی، چه په شرم پوهیږی .

پەشو تلو کښې‌چه وا ښه کوی په، دې کښې یې هم چل دی

پەشلو مبو که‌چاغیدلی، غړ که به‌چاغه‌وای .

پەشید وسوی، مستی پوکی .

پەشمله دې‌شوم غلطه، کور ته‌چه‌دې راغلم، یوه او ښه بلـه کته .

پەښادی دې‌ښاده نه شوم، په غم‌دې‌توره تلبه‌وسوم .

پەښه پردی خپلیږی .

پەښه ورځ هم بده ورځ نه هیریږی .

په ښه کې ور ور، په بد ه کښې پیغور .

په صورت که نری دی ، په کار کې ندی دی.

په ظاهر دوست، په باطن وروست .

په عمر کشر، په عقل مشر .

په غر مو یې وکټه، په سیوری یې وخوره .

په غره کښې اور بلیږی، سور ناچې ور ته نخیږی .

په غم کښې ناري وې، په ښادۍ کښې نغاري .

په غوجل کښې چه یوه و میږی (۱)، رنګ د ټولو بد کړی.

په کام پسې ناکام دی .

په کلی دعوه ده، په ټم ناره .

په کور کښې یو ټك دارو نه لري، پرځان یې نوم غمباره

ایښی ده

په کور کښې نه کوك نه پیاز ، اروی دوازکو .

په کولمو کښې خواړه کوچ، خبري دغورمچ (۲) .

په کار ري نه یم، په خرپ یې یم .

په کټه نه پوهیږی، خوراك ته یې کړیږی .

(۱) میږ ل ـ متیازی کول .

(۲) غورمچ ـ دمچانو شور ماشور .

به ګرزیدو نه مري، په کښېناستو مري.

په ګورم کښې یې غوا نه درلوده، د ګورو ان سر یې مات کړ

په ګو ړه ویلو، خوله نه خوږیږي.

په ګوشته کښې هم ځوانان شته.

په ګیلړه مې شو تل دی، په ملامې توره سپردی.

په لاس کار، په زړه یار.

په لاس کښې یې شړشم زرغون نیږي.

په لیمڅي کښې هم ونښته لټوي.

په ده دې وانه پوردی، نه چه کبلي.

په مځکه سیوری نه لري، په اسمان ستوري.

په مرګ یې ونیسه، چه په تبه به راضي شي.

په مړو ایرو کښې، ډکی مه وهه.

په مسجد کښې لمونځ او کتاب، په چوک کښې چلم او رباب.

په ملنګک، خه کلنګک.

په ناز مویلي اشنا، باور نه شي کیداي.

په نا بلده سپي هر سړی غونلي او اروي.

په ناسته غو مبر نه کیږي.

په نهومیاشتو کښې نه پخیږي، په نهوورځو کښې پخیږي.

په وهلو څوك نه سمېږي .

په هرشي کښې ښه او بد شته .

په هر غار کښې ګوتې مه منډه .

په هغه واله کښې چه او به تللې وي، بيا راځي .

په هندوستان يې ګټي، په چوره ګډې يې بايلې .

په يوه هلو کې دوه سپي په جنګ اچوي .

په يار انه کښې بنګړي ماتيږي .

په يوه باندې چه دوه شي، رڼا ورځ پرې توره شپه شي .

په يوه برستن کښې دوه لوڅ نه پټيږي

په يوه تيکي کښې دوه توري نه ځائيږي .

په يوه ځيږه دوه مخه خوږيږي .

په يوه زين کښې دوه تنه نه ځائيږي .

په يو ځنګله کښې دوه زمريان شپې نه سبا کيږي .

په يوه کتاب څوك نه ملا کيږي .

په يوه ګل نه پسرلي کيږي .

په يوه ګېډه دوه منته مه اخله .

په يوه لاس کښې دوې هندوانې نه اخستلې کيږي .

په يوه مړه موږ شوې، په ټول کلي سور شوي .

په یوه موزه کښې دوې پښې نه ځائیږي .

په یوه ودانه، په دوهم ورانه، په دریم ډاګ ډګنی (۱)

✿پیاز دې وی، په نیاز دې وی .

پېریانو ته، غزنی څه دی .

پېر که خس وی، د مرید بس وی

پیر نه الوځی، مرید یې الوځی .

پیشو چه ایساره شی، ونې ته خېژی .

پیشو چه جنګ کوی، منګولې مخ ته نیسی

پېغله که هر څومټه کوره وی، تر کونټې خوندوره وی.

پیل که له تندې مړشی، یو زنګون اوبه یې لا په نس کښې وی .

پیل چه ژوندی وی یو لک وی، چه مړشی دوه لکه شی .

پیل تلی، تلی پر پکی ودریدی .

---

(۱) ډاګ ډګنی -- سپیره میدان .

# ت

✲ تا به ولی ، ما به خوبرکی .

تا ته یې لور پخوی ، موږ ته یې تنور پخوی .

تا ته یې ابیړ بخوی ما ته یې تبیړ پخوی

تا زیان چه هوسیړ نیسی ، دهغو خولې توري وی .

✲ تر اوبو دمخه ګکاولې(۱) مه ګکاږه .

تر تناره یې موری لویه ده .

تر بورته بې وروره مه شې ، وروره ته بې زویه

تر بور وژنه ، خوشړ موه یې مه .

تر بور چه خرشی ، پې مه سپر بږی .

تر بور که هر ښومره خوار شی ، دخره ګمان مه ور باندې کوه .

تر بور دتربږمیړ موږی دې .

تر بی عقل دوست هوښیار دښمن ښه دی .

تر بې عقلې ناوې، هوښیاره کونډه ښه ده .

تر بیکاری ، بیګاری ښه ده .

تر پردی زوی ، خپله لور ښه ده .

(۱) ګاوله یو خاص ډول د پښو بوټ دی .

تر پردي مصري توري ، لور پر غاړه ښه دي ٠

تر تیارۍ ، برخه مه تېرېږه ٠

تر تشه ولاړه ، په خرپ نړېدلې ښه ده ٠

تر توري وهل ، ډوډۍ ورکول ګران کار دي ٠

ترخو چه رښتیا راځي ، دروغ به کلي وران کړي وي

ترخوچه پېر مړنه کړې ، پوست يې مه خر خوه ٠

ترخو پښ نس ، راپېښ ٠

ترخوږلی ، لاامید ښه دي ٠

ترخه خوره ، خو ترخه مه وایه ٠

تردې يې تېر ، هغه نور يې ستا ګنله ير

تر رمې يې ، سپي ډېر دي ٠

تر ننګ يې ، خوند ښه دي ٠

ترزرين پو ښه پياده ، دغوايي سپور ښه دي ٠

ترسړي ګټې ، تود تاوان ښه دي ٠

ترسلو داوو ، يوه برمته ښه ده ٠

ترسلو منو خوږلي ، يوچارك كرلي ښه دي ٠

تږ کوره به درسره يم، نه تږ ګوره.

تږ شير يې، په ښوروا خوشاله دی .

تږ عز دې شکرانه ډېره ده .

تږ پروت زمری ګرځند ګيدړ ښه دی .

تږ مور و پلار خوږې راځه که غوښې خورې

تږ نکل يې و پوهېدې ډېر دی.

تږ وژلی ورور، پرې ايښی ګومل ښه ده.

تږ ورخ تېرې او به، بېرته نه را ګرځی .

تږ ور، نيمه مور.

تږ پښو لاندې ځمکه مه ګوره لرې واټن ګوره.

تږ وهلو يې په ځغلو لوستړی کړی.

تږ يا کي، دوه په ايکي .

تږ ويش يې په چوړ خوشاله دی.

تږ يوې خرما، دوې وخکې ښې دی.

تږ پلې ښه دی، نه و تلی .

✲ تږی په خوب او به وينی .

✲ تش لاس، نر ښځه کوی .

تشه لاسه ته مې دښمن يې

✲ تلتك دمېلمانه ، كوسي د كور با نه .

✲ تلخې دځنكندن ده، كه دې‌شپه پر بل وطن‌ده.

تنبا كوكه ترخه دی، عملی ته خوا‌ن‌ه‌ده‌ی

✲ توبه (۱) دمېړوخالی ده .

توبه باید دستی وی . هسی نه چه په سستی وی .

توتكی وایی بې ازاره ده ، ويل‌دچمن چنجيان‌وپوښته

تور په توره شپه اخله ، چه زیړ ویڅې شین مه‌احله ( ۲) .

تورد‌تور ې‌دی، ژیړ د نجو نو .

تور ليمڅی په‌صابون نه‌سپينيږی .

توری په اصل غوڅه كوی .

توره سره ښه ده ، خونه دور ور په وينو .

توریالی ، ټول نتګیالی .

تور یالی له‌شانه واهه ګیږی .

توری به لالوهی ، مړی به عبدالله وهی .

---

(۱) د قندهار په جنوبی سر حد كښې . د يوې علاقې نوم دی

(۲) دامتل د بزگر ودی اومراد څنی غوا يا غويی دی .

تورێ چه باڤیرى ،جگڕه پهنیرى .

تورێ چرگێ سپینێ هگێ اچوى .

تورێ نور عحوانان وهى، منصب سدوخورى .

تورى سگان وهى ، گرێ پگڕى هندوان وهى .

توزنه هیله دخداى له کرمه وتلى ده .

توکل نردى ،اند پشنه بنحه .

توکلى ناڕێ بپر تهخولى تهنهراحى .

* ته بهیێ خپل وبولى، دى بهدێ زوموخپژى .

ته نر ماجار، زه نر تاجار .

ته خوجینگک داڕى وێ ،زهدێ له خندامر کڕم .

ته خود ڕاگک وێ ، زهدێ در سره د ڕاگک کڕم .

ته خود غرو وێ،زهدێ له کمرو وغور زولم .

ته خود غونڵو وێ ،زه دێهم دغونڵو کڕم .

تهمى بزێ وهه ،زه بهدێ روژێ وهم .

* تیاره بدان خوبوى،رنها نپکان .

تیبره تیبره ماتوى .

تیر پههیر .

تیبره پهخپل ځاى درنده وى .

تیږه ځی ځی دخوار په سر لګی.

تیغ په جوهر خوراک کوی.

تیږه چه چېرې پرته وی، هوری درنه وی.

## ټ

۞ ټال کښې ځنګېده، په سر کنلو ودر یده

ټپوسه خپله پوسه، تا ته چاویل چه د بل چرګوړی نیسه.

ټك له دو اړو لاسو خیژی

ټینګ عزم غرونه ماتوی.

## ج

۞ جار ترهغه زوی، چه ترهر چا وی نیك خوی.

جاردې شم روپۍ، چه همسر یې هم ګډیه.

جامه چه د پورشی، په ځان پورې دې اورشی.

جامې خودې ښې دی، چه په ګیلوه څنګه یې.

جاهل ته دوه ځله سلام اچوه.

۞ جغ پرغاړه، او جغ غواړه.

۞ جفامر ګی ښه ده، نه بې اتفاقی؟

❁ جنګ په وسله، ننګ په غله.

جنګ په شهد یاره ښه دی، نه په خاره.

❁ جنګ پر خاره ښه دی، نه پر شهد یاره.

جنګ جنګي کوي، ننګ ننګي.

جنګ مېړه او سپي ژر ښکاره کوي.

جنګ چه نه کوې، ډبره لویه اخلې.

جنګ سوړ شو، مېړی تود شو.

❁ جوړ صورت چه وي، نیستي نه باندې ورځي.

❁ جولا شوی نه یې، بیا دې نیچې پټه کړه.

## څ

❁ څراغ چه په کور کښې لګېږي، بیا ته څه حاجت دی.

❁ څښتن په سپي حکم وکړ، سپي په لکۍ.

څښتن یو مزل کوي، سپی دوه.

❁ څمڅه په عمان غره شوه، چه په دې اوګره سړه شوه.

څنګه چه سوال، هغسې یې ځواب.

څنګه چه ژرنده هغسې یې دوړه.

څنګه چه دې کور دی، هسې یې زړه تور دی.

څنګه جومات، هسې بروزي

څوچه ونه ویشل شي، خبر به نه سي ·

څوک ځان غواړي، څوک جهان

څوک چه لاس درږورې بند کړي، مه یې غوڅوه

څوک چه زحمت ونه ګالي، راحت به ونه مومي

څوک چه دې طلبګاروي، هغه به دې یاروي .

څوک چه بار وړای نه شي، اوږه نه ورته نیسي ·

څوک چه له قامه لرې اوسي، باد به یې یوسي ·

څوک چه پرمخ ځي، باید ترشا وګوري ·

څوک چه خوبونه کوي، میښه به یې نرکټې زیږوي ·

څوک چه غوا خر څوي، له پړي به یې تیریږي.

څوک مه وهه په ګوته، تا به نه وهي په لوټه .

څوک مه وهه په نوک، تا به نه وهي په سوک ·

څوک نه وایي چه زما دغړکې خوند بد دی .

څوک وایي څه وخورم، څوک وایي په چا یې وخورم.

څو کوچنی ونه ژاړي، مورتی نه ورکوي.

څونه چه خرګي، هغونه یې بارګي·

څویې ونه شاربي، کوچ نه کوي ·

څو يې چه شاربې ، کوچ کوي.

✡ څه مې په هغه پسرلي ، چه نه مې غواګړي نه خوسي.

څه توره تيره وه، څه انا ورسته وه.

څه چه په دېګک کښې وي ، په څمڅي کښې را څېږي.

څه چه په کټوي کښې وي ، هغه په څمڅي کښې وي.

څه خوره ، څه پر پرده.

څه د کوره ، څه د پوره.

څه په هغه چار، چه نه دې مور کړي وي نه پلار.

څه نه وو، چه په ما دې ونه کړه.

څه راوړه، څه به يوسې.

څه زه بدوم، څه دښمنانو لاسو نه را پسې و ټکول.

څه غر پنا، څه ور پنا.

څه ژرنده پخه وه، څه غنم لامده وو.

څه لاس تر منځ، څه غر تر منځ.

څه مړه، څه ماړه.

څه مور لنګه ، څه ترور.

څه وهلي، څه پورې وهلي.

✡ څې کوې، چه نې کوې.

# ځ

❁ ځائې پور غواړي ، تورې نورې غواړي .

ځان ته ښه وايي او ښه نه کړي .

ځان ځاني ، خپله خواري .

ځان دې وخوري نوکري ، چه به لره پړ لري .

ځانه ځانه ، تر هرچا ګرانه .

❁ ځلمي د ځوانۍ په نښه مست وي ، د چا نه اوري .

❁ ځنګل چه اور واخلي وچ او لانده ټول سوځي .

❁ ځوان پر غړي ، زوړ پر لري .

ځوانه ښځه د زاړه خوا وهي .

ځواني نه پټېږي .

ځواني د زرو روپو آس دی .

❁ ځای ته ګوره ، بیا نو ښوره .

ځای در تنګ ، او به در خړې .

# ح

✲ حاجی په مکه کښې لټوه، ځرسی په تکیه کښې .

حال منصور وایه، چه سریې په دارشو .

✲ حرام چه دچا په کور ننوتلی وی، حلال یې هم ورسره تللی وی .

✲ حساب په مثقال، بخشش په خروار .

حساب په ککې، بخشش په لکې

حسد هسی نیکی خوری، لکه بل اورچه لرګی خوری

✲ حق اخر حقدار ته رسی .

حق خپل ځای نیسی .

حق په تا، حق له تا .

حقې روژې تیری دی ، نفلی زه نه نیسم .

✲ حیادار حیا کوله، بې حیا ویل زما ښځه بېربېری .

حیوان قیمت په بارداری چکوی، انسان یې په کاردارو .

حیوان چه بې کاره شی، هم خوړل کېږی هم خرڅېږی .

# خ

✲ چا په کلی کښې نه پرېښود، ده ویل آس مې د ملک کره وتړی .

چا په وړا کښې نه پرېښود، ده ویل د مخ اوبه زما دي .

چا ته چه شی نه ور کوې ، ور ته ښکاره کوه یې مه

چاړه چه د سرو زرو شي . څوک یې په نس نه منډي .

چا مونده ، ما مونده .

✿ چټه چه زوړ روېني ، په ږیره یې ړوړ ووېني

چټه چه ځوان و وېني ، صورت حیران وو یني .

✿ چرت یې واه ، خورجین یې بایللو د .

✲ چرسي چه موزی نه وي ، په چلم کښې لاسخی وي .

چرسي زوی ، نه زوی ، تریاکی ، دوه په ایکي .

چرګک په تالي کښې ګوره .

چرګک دې یم ، حلالوه مې مه .

چرګک په ویران مه ګوره ، پر کاسه یې ګوره .

چرګک چه غټېږي ، زړه یې تنګېږي .

چرګک چه ځوان شي ، پر بام ور و ور ځي .

چرګک په پردیو غوړ و مست وي .

چرګک پر بام کرار ته ، ویل چه بام تر ما لا ندې
و نه نړېږي .

چرګک د مالګې په څکلو څه پوهېږي .

چرګک یو مار غه دی ، چه چا و نیو دهغه دی .

چرګه مې ناجوړه ده، بازه مې ورته جوړه ده .

چرګه چه ببره شی، له پیشی نه کمه نه ده .

چرګه دجولا لاړه ، نوم د ملک وشو .

چرګه زما، هګۍ د بل کره اچوی .

✡ چغال ته الونه رسېده، وېل یې دا تروه دی.

چغال پر نعمت شکر کیښ، چرګک ئې دخولې ووت .

چغری خښتن نه مو ند امر خپلو وطن ؟

چغل په خوی غل ، چه چغلی کوی د بل .

✡ چور په اجاره دی .

چوغکې دی ، یو تر بل چابکې دی .

چه اړ شی ، وخره ته هم ماما وایی .

چه اختر تېر شی ، نکریزی په دیوال وتپه .

چه اوبه وی ، تیمم ته څه حاجت .

✡ چه اوبه نه وی ژوندون ګران دی .

چه اوبه ته وایی «پانی» سر یی لاندی که ترکانی ؟.

چه اوریې بل شی ، خدای یې مل شی .

چه اوښ دی کړ، ویی تړه ؟

چه اول لړی، اخر نه لړی .

چه ایمان وی ، مرګ څه دی .

چه بابا ژوندی ؤ، دادې په‌لاس کودې ؤ .

چه باباژوندی ؤ، هلته ادې ادې وه .

چه بابړیې ، زما په کتاب پړیې .

چه بادار حضورشی ، مریی تورشی .

چه باد نه وی ، ونه نه ښوری .

چه باد یې وی دپاسه ، باران یې سمدلاسه .

چه بادیې وی دکښې ، وریځ زغای لکه بزې .

چه بټی خوری ، مولی به زغمې .

چه بخت نه وی، پالوس نه‌زده کېږی .

چه بخت یې تورشی ، دښمن یې دپلار کورشی .

چه بد کوی ، بد به مومی .

چه بدکوی کاروونه ، هغه بدوینی خوبونه .

چه بد ګرزې، بدپرزی .

چه بده غواړی . په بده به‌واوړی .

چه بل یې وخوری، ګل به‌شی .

چه بې ځایه اشنائي کړی ، اور بل په خپل تندی کړی .

چه بې قامه شی ، بې مقامه شی

چه بې ملوځی ، تور مار یې پراوړوځی .

چه درانه بار نه وړی ، خوراك یې ځوزدی .

چه پال ګورم ښه راځی ، چه یار ګورم ښه نه راځی .

چه پردی کور ته ئې طمعه شی ، یومن غوښه ئې کمه شی .

چه پرلوړه ګرځی ، پرژوره پرزی .

چه پزه و نه لری . دخټو نه ، نه جوړیږی .

چه پزې ئې وی پیتی ، هغه ناستی وې مزبوتی .

چه پلار یې وز نه وی ویشتلی ، مور یې غوز نه وی ویشتلی .

چه پوخې خورې ، متاربه سهې .

چه پور ګټې ، نور وګټه .

چه په پټه وی ، په ښکاره لنګیږی .

چه په تادرشم کور نه ورکې ، چه په ماراشی خور کی .

چه په تمه دسوروشی ، هغه پاتې په میروشی .

چه په ځان کښې وینی ، په جهان کښې وینی

چه په ځان ئې خوری خاوری کیږی ، چه په بل ئې خو ری
ګکل کیږی .

چه په خره دې کار نه وي ، اېښه ورته مه وایه .

چه په ډېر حرص ئې غواړي ، هغه کم خوري

چه په ډېرې واخلې ، په لږيې مه خرڅوه .

چه په ډکه کاسه موړ نشي ، په څټلو ئې نه موړېږي .

چه په ډله کښې دوست نه وي ، مه پکښې کښېنه .

چه په زور ورسره نه یې برابر ، د هغو تر څنګه مه کښېنه زړه ور .

چه په کار شرمېږي ، هغه کله پورته کېږي .

چه په کور کښې غوړي مومي . لېوني به غروته درومي .

چه په مرګ ئې ونیسې ، په تبه به راضي شي

چه په مېله کښې سوړ سك خوري ، کور به څه خوري .

چه په نازولو ئېږي ، په زیار زړېږي .

چه په نیمه شپه بېداریږي ، که نا بلدیې زما یاریږي .

چه پېریې زورور وي ، مریدان یې ځنځیرونه ماتوي .

چه پیر وي ، فقیر وي .

چه پیلان ساتي ، پیلخانې به لوړې جوړوي .

چه پیلان ساتي ، دروازې به دنګې جوړوي .

چه تاو کړل ، ماو ریبل .

چه تر ملکه دې کړه، نو ور که دې کړه ۰
چه تل ځي په غدی ، يو ه ورځ به ئې وی د کم بختی ۰
چه توري په تېری شي ، پل په اشر پېه شي ۰
چه تو رې چلېږی ، و ينې بهېږی ۰
چه تورې وهی ، تورزن يې بولی ۰
چه ته مې و لېدې ، په ځان مې شکر و کيښ ۰
چه تيار وی ،هغه ديار وی ۰
چه تېر شول ،هغه هېرشول ۰
چه چرګک نه ؤ ، ازان چا کاوه ۰
چه چم لری چمتودی ، چه چم نه لری هندو دی ۰
چه چنګښې وا یی غار ، ترکی وايی کندهار ۰
چه چنګښې وا یی کور ، ترکی وايی مقر ۰
چه حج حج لرې ، يو وخت به حاجی شی ۰
چه خان ئې په ياران يې ، چه ياران درسره نه وی تورې
خاوری دبيا بان يې ۰
چه خاوند يې لېټی خوری ، دسپو به يې څه حال وی ۰
چه خاوند يې نينې چيچی ، نوسپی ته به څه وراچوی ۰
چه خبرشی بې اثر ، ترينه پټه خوله بهتر ۰

چه خپل دې وي خوره، چه خپل دې نه وي مره.

چه خپل دې پکښې نه وي، په هغه مرکه کښې مه کښېنه

چه خداى يې چاته ور کوي، د شالېزو او د اؤ دز و
ترمنځ ئې ور کوي.

چه خداى يې شرموي، داس پهسر به يې سپى خوري.

چه خداى يې نه کا، بنده به يې څه کا

چه خداى ئې ور کوي، بټل يې (۱) يار دى.

چه خداى يې کوي هغه به وشي.

چه خر نه لري، په خره نه ارزي.

چه خړ نه شي، غوړ به نه شي.

چه خوري، نه مري.

چه خوله خوږېږي، زړه بدېږي.

چه خوله لري قراره، نه به بوره شي نه واره.

چه خوي بد شي، پلمې ډېرېږي.

چه خير دې نه رسېږي، بد مه رسوه.

چه خير تا ته در کړم، ابې به په څه شي پورې باسم.

چه داختر کالي دې دادي، دلو به دې لاکوم وي.

(۱) بټل يو ډول هاونګ ته وايي چه بنګي پکښې ژدول کېږي.

چه داغړ که کوچ کړی . طالبان به راته وچ کړی .

چه دا ملاکیسې کړی . ما به غونډه درپسې کړی .

چه د بل مور بوروې ، ستا به هم بوره کی .

چه د بنګو بټل زدویی ، اخر به بنګی شی .

چه دجان شی ترسر تېره ، خدای دې نه کړی دانا بوده دنیا ډېره .

چه دخدای وعده پوره شی ، دبنده سخه به پخه شی .

چه ددوونځو خښتن وی ، سخت به یې ځنکندن وی .

چه درانه بارونه وړی ، خوراك یې ځوزوی .

چه دردی شی پهستونی ، ستا به هېرشی زوی اولونې .

چه دروندنه شوې . نوسپك په خه شوی .

چه درومی ، خه به مومی .

چه دریې نه کړم ، ازاردې په خه کړم .

چه دړندو بر کوڅه راشی . پریوه سترګه لاس ږده .

چه دې زده کړه په طفلی . هېر به ئې نه کړی تر پیری .

چه دزړه وکړې ، اوګرې ته به هم تبی وکړې .

چه دسترګو نه لرې شی ، دزړه نه به هم لرې شی .

چه دشپې لاړ نه شې ، دورځې به ځای ته ونه رسېږې .

چه د کاسې په منځ مونږ نه شې، په څنډو به ئې هم مونږ نه شي

چه د گور سختي په زړه کړم، زه به ولې ژړانه کړم .

چه د ګډلو نه وې، ولې دې څیره .

چه دکیدړې په جنګک ورځی تا یه دزمری نیسه

چه د ملا غواړی خدای دې نغاړی ، چه ملاته یې ورکوی

خدای ته ئې ورکوی .

چه دنیا شي په ماتیره ،خدای دې نه کړی دانا بوده دنیا

څیره .

چه دنیا درغله ځای ورکوه، چه تله لار ورکوه

چه دودنه وی ، سود نه وی

چه دوستي کوی په زرمه بیر بیره ، چه دښمنی کوی

په سر مه بیر یر یږی .

چه ډب نه وی ،ادب نه وی .

چه ډوډی وی ، بې دسترخانه هم خوړله کیږی .

چه ډول دې وی په څنګک ، د وهلو ئې څه ننګک .

چه ډیر وایی ،لږ خیژی .

چه راځي د بل دکوره ،پر تا به شپه شي تکه توره .

چه راپورې دی نه کړه ،راڅخه پرې دې په څه کړه .

چه رارسیڕی دسوات بپستی (۱) دخورانو بەبنكارەشی
سر ێ پنلوی ·

چه رختلری، بخت لر ی ·

چه روپیه و ی برگێ، چیلیەلەیرێ وی ·

چەزروی·زاری دخه ده ؟

چەزرلری ، خبرلری ·

چەزورنەوی ، خواره بڕیره به خه وكڕی ·

چه زده كری در ویزه ·هێره به نەكڕی ئامزه ·

چەزڕه خوبڕیڕی ،لەڕوندوستر گوهم اوبنكێ عێی ·

چەزڕه تنگك نەوی ،عێای نه تنگبڕی·

چەزڕه یێ غواڕی ،خوله یێ هم وایی ·

چەزماپرزڕه لیكلی ،خەپاچاخه لنگك وهلی ·

چه زما سره عێی ،تل به تورێ وخكێ خورێ ·

چه زور تێرشی ، عقل هێرشی ·

چه زور دزورورشی ، پتێی له تخمه سر ه خێل شی ·

چەزه كو نلوه یم ،پردنیادی مێڕو بنێ نه وی ·

چەزیار كابڕی ، گتێ دهغو دی ·

(۱) بستی خامتاته وایی ·

چه ژرنده یې ګرزي، بلا یې پرزي.

چه ژوندی وي، قلندر وي، چه مړ شي چغندر وي.

چه ژوندی یم ښه مې غواړه، چه مړ شوم مه راپسې ژاړه.

چه بړغ شي د شکني، زړه مې ښه شي که یې مني.

چه سبا شي غم پیدا شي، چه بیګا شي غم پنا شي

چه ستا له کوره راځي، په غلبېل کښې دې راځي.

چه ستا بې مار غېږي، زما هم ساعت بې تا تېرېږي.

چه سر وې، خولۍ ډېرې دي

چه سر دې نه خوږېږي، داغ پرې مه ږده!

چه سره ونه مېږي، (۱) سره به ونه ګټې.

چه سر و مال ترې جار کړې، نو هر سړی به یار کړې.

چه سم د چاویل وي، په هر چا یې منل وي.

چه سود کوې، سودا به مومې.

چه سپلغکی خورې، نېغکی به زغمې.

چه شپه تیاره شي، بدان تېره شي.

چه شپه یې ترمنځ وي، له هغې بلا مه بېرېږه.

---

(۱) مېږل مینه کولو ته وایي.

چه شرم نه لري، ایمان نه لري .

چه ښه وي، بد دې اور واخلي .

چه ښېرې کړي، هغه به خپلې مېنې سپېرې کړي .

چه طلب یې کوې، پرې پېښ به شې .

چه عقل نه لري، پر کور یې تل غم وي .

چه عقل یې وېشه، ته چېرې وې .

چه عقل یې کم وي، زیات یې غم وي .

چه غټ شې پرندې بولي، چه ځنګر شې کرن دې لولي .

چه غټ وي، لټ وي .

چه غل نه یې؛ له باچا مه ډېر وېره ! .

چه غل نه تښتي، مل دې و تښتي .

چه غل نه یې؛ د جوال خوله مه ورسره نیسه .

چه غلې غلې باسي، هغه تل کالې پرې باسي .

چه غواړې، پرې واوړې .

چه غوټه په لاس خلاصېږي، حاجت خولې ته نشته .

چه قاضي دې مدعي شي، دعوه به د چا سره کوي .

چه څه کرې هغه، به رېبې .

چه کلی دې زېږاوه، غم به یې وړې .

چه کلی په نامه لری، یوخوی آر نوروښه لری.

چه کوچنی ډی پر پښو ځی، چه لوی شی پر واږو ځی.

چه کوچنی و نه ژاړی، مور تی نه ور کوی.

چه کور پرغره لری، هم نوی هم زاړه لری.

چه ګل کری، ګل به ریبی.

چه لاس په خوشیو نه شی، خوله به په غوږو نه شی.

چه لږ خوری هغه تل خوری؛ چه ډیر خوری، زهر

ګند یر خوری.

چه لوی غاړی، کوچنی تراړی.

چه له ځانه مست نه وی، په بنګو نه مستیږی.

چه له خدایه پټه نه وی، د بندګانو یې ولې پټوې

چه له یاره وایی، له ځانه وایی.

چه لېوه مېږه خوری، په توره شپه یې خوری.

چه مالګه وخوري، لوښی مه ماتوه.

چه مربی لري، مرباخوره.

چه مړی‌ه لري مېلمه ګی څه دی، چه ایمان لري مرګی

څه دی.

چه مړه شی امیران، نیمګړی نه دی داجهان.

چه مړ شو ، هغه پړ شو

چه مړه شي مېمنان ، یا به باد وي یا باران ۰

چه مېلمه شي ۰ آسوده شي ۰

چه مېړونه وي ، هلته کورونه وي .

چه مشرۍ غمبر وي ۰ اخترۍ مازیگر وي .

چه مور دې نه وي په پلار گنې ۰ هور دې ولې ځې لېونیه ۰

چه مور لري اد که ، په صفت به یې واده که .

چه مال لري ، اقبال لري ۰

چه مور یې بښیاره وي ، زوی یې نه فتح خان کېږي ۰

چه مور مېړه شي ، پلار پلندر شي ۰

چه مېښه زهیر وي ، کټۍ یې وهه .

چه ناچاري شي ، سړی توري ته هم لاس اچوي ۰

چه نر کچور درسره نه وي ، بوی دې نه ځي سور لرگیه ۰

چه نري وي ، زمري وي .

چه نغده دې ولیده ، ځنگه دې و خندل ۰

چه نغری سوړ وي ، اولاد به یې کله موړ وي ۰

چه نه ځې په شا به دې کم چه نه خورې څه به دې کم ۰

چه نه ځني خلاصېږې ، پړ پړ ې ور ځه !

چه نوا له خوري، جا نبار به وهی .

چه نوم دې دغله دی، ناستی د ې په څه دی

چه نوم يې وی شړی، څه پېړه څه نری .

چه نه دې وی غله، مه دې اس مه دې کټله .

چه نه دی وی سړی، مه نغن خوره مه غوړی

چه نه دې وينم، اخر به مې هېر شي .

چه نه دې وی له موره هسې مه وايه چه وروره .

چه نه دی وی له پښته، له هغو کسانو تښته

چه نه دی وی غمخور، پاتې دې مشه ميراث خور.

چه نه غواړم، هغه مه راپېښوې .

چه نه کار، هلته څه کار .

چه نه کوی حبيب، څه به وکړی خوار طبيب

چه نه کوی ننګو نه، هغه پس کوی مرو نه .

چه نه لری هلك، هغه کور د تيغ لايق .

چه نه لری سړی، نه دې کورت خوری. نه غوړی .

چه نه لری باغچې، هغه دې نه خوری الوچې .

چه نه لری پنګه، مه کښېنه د چا له څنګه .

چه نه منی ديار پندونه، لاس به نسی په سرونه .

چه نه وی چا درلی . څه به یې وی ریبلی .

چه واک یې د موروی ، کاڼی یې په کوروی .

چه و خوری د نرلغته ، داسی به کېنی لکه اورته .

چه وخوری پیټی ، سر دې کښېږده په لښتی .

چه ودې نه پوښتی ، مه ګډېږه .

چه ولاړ شی تر بلخه ، در سره ده خپله برخه .

چه ډلو پدې د اول بخت ، بیادې نه وینم دوهم بخت .

چه وېغواړې پخوله ، خورې به یې پخه .

چه هر څنګه ډوډی شی ، تاتې لا نه چیچی

چه هلکو نه ژاړی ، مور تې نه ور کوی .

چه هلک دې ملک شو ، کلی دې ورک شو .

چه هډوره ونه خوری ، له خولې یې بوی نه ځی .

چه هوس دی ، دغومره بس دی .

چه هوسی نیسی ، ده غو تازیانو خولې تورې وی .

چه یاری کوی ، شوګیری به تېروی .

چه یو لوریې تر ملاوی ، مه یې ځنی رغوه .

چه یو مړ نه شی ، بل به موړ نه شی .

چه یو خوری بل ورته ګوری ، د اسمان کاڼی به پې اوری .

چېړې .. ، چېړې څنګل .

چېړې چه ډنګ شی ، دا بیه ګوډی تر څنګ شی .

چېړې کولاله ګوره ، خو خپله سیاله ګوره .

# خ

خان صاحب یو تار ور پښم نه خوځل، لس زره روپۍ یې
وخوړلې .

خاوره په ایره واخوړل، باد دواړه یوړل .

خاوره (۱) د خوسر د کوره اخستل کېږي .

خبره د خدای د پاره، لوړه د تربور د پاره .

خبره تر خبرې پورې یادېږي

خبرې ښې کوې، لکه یې کړې کوې .

خپل به دې وژړوي، پردی به دې وخندوي .

خپل ته نامه وړه، بر ته جامه وړه .

خپل سر په خپله نه خرېیل کېږي .

خپل عمل، د لارې مل

خپل دې که مړ کې، لمر ته دې نه غورځوي .

خپل کور، یا خپل ګور .

خپل وهلی ښه دی، پردی پورې وهلی .

---

(۱) د دې متل معنی داده چه اکثراً اولاد مور ته ورته وي.

خپل پر تنګسه په کار دی .

خپل دا په نس، د بل دا په وس .

خپل ګټان د ې‌ساته، بل ته مه وایه چه غله .

خپل مال تر ستر ګو لاندې ښه دی .

خپل وطنه، ګله وطنه .

خپل خپل، پر دی په ډ پرو ناروخپل .

خپل یې که ور کوی، بیامنت ور باندې نه پردی .

خپل هغه دی‌چه بېګا یې کو رو یني، سبا یې او ر و یني .

خپل عیب دو لو منځ، د بل عیب د کلی منځ .

خپله شړ ی‌ه ښه ده، نه د بل ور پښمين شال .

خپله‌خو له هم ګلاده هم بلا .

خپله پښه خپله پښه پېژ نی .

خپله لاسه، ګله لاسه .

خپله خو له(١) په بل نه‌و چېړ ی .

خپله مرسته، له‌خپله دسته .

---

(١) یعنی خپله خوار ی‌انسان په خپل ز یار ا یسته کو لی شی .

خپله‌خواری نه‌ژاړی، سرښخوړی (١) غواړی.

خپلوی له‌لری ښه ده، نه له نژدې.

خپلې مورې را نژدې شه، پردی مورې دزړه لمبه مې درپسې شه.

۞ خدای په رښتیا خو ښیږی.

خدای دحق ملګری دی.

خدای کوږ کړی نه‌سمیږی.

خدای او پاچایې راکوی، شیخ مېریې نه راکوی.

خدای دې په‌هغو پو ښته‌چه لرییې.

خدای وایې ته‌حرکت کوه، زه به برکت کوم.

خدای دبل په‌ګناه څوك نه نیسی.

خدایه لوی مې کې، لویې رامه کې.

۞ خر پرلار که، پرې بار خپله چار که.

خر په پالانه نه درنیږی.

خر په‌زین اس کېدی نه شی.

خر په‌غره کښې بوعلی دی.

خر نه دی کچر دی، پرې پورې دخره سر دی.

(١) یعنی خپلې خوارۍ ته‌ګی پام نه‌دی بی‌محایه‌اغایې کوی.
یا خپلې خوارۍ ته‌یې پام نشته‌دشال خواست کوی.

خر چه تر خره پاتې شي، غوږيې د پريکولو دی .

خر چه تر مکې ولاړ شي ، هغه خر دی .

خر له باره ولوېد، له مستۍ ونه لوېد .

خر ځان ته اريان ؤ، خاوند يې بار ته

خر مردار بده نه، او سپی ترې تله نه .

خر له وری پاتې کېږی، له هنګه نه پاتې کېږی .

خر خپل او پردی فصل څه پېژنی .

خر هغه دی ، ځل يې بل دی .

خره ته دې خدای ښکر نه ورکوی، که ښکر ور کړی د غويو
نسونه به څيری کی .

خرې ته يې ويل زوی دې وشو، ويل څه يې کوم خپل بار به
وړی خپل به وړم .

خره ته يې ګل ونيو، هغه وخوړ .

خره ته جوار او ور بشې يو دی .

خره ګلله که ، بيا ګيله که .

✲ خلك په لېونی پوری خاندی ، لېونی په خلکو .

خلك پيسې راوړی، ژاوله ريچې ·

خلك هر څه کوی، خوهر څه نه وايي ·

✡ خوار په خپله خواری نه شرمېږی ·

خوار تلتك نه درلود، چه پيدا يې کړ تر غرمې پکښې پروتۀ ·

خوار کبر جن، دخدای دښمن دی

خوار خدای کړې، سپی چا کړې ·

خوار سړی، برګك يې سپی ·

خواران، په هر ځای کښې اريان ·

خوار په هندوستان هم خوار دی ·

خوار کور، له دېوا له معلومېږی ·

خوار شوم، نو هوښيار شوم ·

خوار شی دکس، نه دناکس ·

خواره به دې غواړم، نه دور ورد مرګه ·

خواره شې مکارې، چه هم جنګ کوې هم ژاړې ·

خواره شې چرګی، چه له خيا له مستك نه خورې ·

خواره هغه کړې، چه ګالې يې شی، بوره هغه کړې

چه ژړلای شی ·

خواره شي خندیه ، نه پر غم يې نه پر ښادیه .

خوارې لورې تخت به زه درکم ، بخت د ې خدا ی .

خواری دمړو په شاده .

خوارې خوار ی ه ما وکړ ې ، دکور مېر من ته شوې .

خوار ی نه عیب ده نه پېغو ر .

خواږه که دبل ؤو ، نس خودې خپل ؤ .

خواږه درنګه خوږل کیږی .

خواست چه کوې ، داس کوه .

خوا ښې پر زو م ربړ دی ، زوم بې لور ور پر بړدی .

خوب دمرګک ورور دی .

خوب په روغ صورت کیږی .

خوب چه راشي با لښت نه غو اړی ، مینه چه را شي ښا یست نه غواړی .

خور ې تخت بهزه در کم ، بخت دې خپل دی .

خوره چښه ، حساب مهمنه .

خوریې دماما د میني د ښمن دی .

خورې سوړ سګک ، ټبغ دپلاو با سي .

خوري د ا خو مې غو ر دی ، جا غور مې لا بل د ی ·

خوږ به دې کم ، خو نه تر ځانه ·

خوشحال خټک ، په درندو د ر وند په سپکو سپک ·

خوله په غابنو ښا يسته وی ·

خو له چه ا مو ختله شی ، اس نه د ی چه کیز ه شی ·

خوله دې دسوی ده ، شخو ند داو ښ وهي ·

خو يندې مړې شوې، چه پاتې تر لې شوې ·

خوی چه بدشی ، بانې ډېرې دی ·

✡ خیرات دې وشه ، د مړو په اروا دې مه شه ·

خیرات لا پوخ نه دی ، ښا نک يې ورته په سر نيولی ·

خیری په اوبو پاکېږی ، اوو ينې په وينو ·

خيښې په خوښی ، سو دا په رضا ·

## د

✡ دابا دغو نه ږيره وه ، چه په تاو يزو کښې ولاړه ·

دا باد مرګه پس ، په ادې ورغی هوس ·

دابا سين نه چه او به غواړې ، تږی نه يې ·

دا بې دغومره اوکړه وه،چه په څکه څکه خلاصه شوه
دخر په خره څخه ږنګر اس ښه دی .
داخوله، هغه حلوا.
داد پټی سردی ، پټی بېرته سور ور دی .
داد حافظ غو نیاری دی .
دا دنیا که د یوه شی ، هغه یو به پر ې موږ نه شی .
دادې څوک نه وایی چه خواریم بیا ی به نه شم ،
بیای یم خوار به نه شم .
دادې کور،دادې اور، که چېر ې لا ړ ې مخ دې تور .
دادو(۱) د کلی میا شی ، کله ورک کله پیدا شی .
دا س لغته اس زغمی .
داس کیزه چاته مه ور کوه .
داسما نی ټکی څخه څوک ځان نه شی سا تلی .
داسې و نه نشته؟ چه با د دې نه وی ښورولې .
داسی کاروی دکهال ،انګور غواړی بې د یوال .
داسی مړی مه کوه،چه خو له دې پر ې خیر ې شی .

(۱) دا دو د یوسړی نوم دی .

داسی ممیز نشته ، چه خلی پورې نشته .

داسی مه وایه چه زه یم ، داسې به شی لکه چه زه یم .

داصیلې کول سخت ساتنه یې اسانه ، د کم اصلی کول اسان ساتنه یې سخت .

دانصاف په وخت کیدږه اوزمری یو ځای اوبه څښی .

داوبو لار په وتی ده .

داورسوی په اور رغیږی .

داورسوی جوړیږی ، خود لمر سوی نه جوړیږی .

داور لمبه که سږی هر څو ښکته کوی ، هغه اخر سر او چتوی .

داوړی لوښلنی (۱) دژمی ننګولی .

داوړی نه شړی کیږی .

داوښ په شان دسر سیوری مه خوره .

داوښ په شاسپو وخوړم .

داوښ اوخره بار له ورا یه معلو میږی .

داګومان مې نه شی چه زه ایزه به زوی وشی .

(۱) لوښلنی داوړو د لوښی د پرولو نی او بوته وایې .

دا پلنی ماریی ، پټ چیچل کړي •

داي ګز ، داي میدان •

داي ګوډل او داي ژرنده •

د بابا دغو نه بریره ده چه دمچو لو بس ده

د باچا زور ، د خدای زور

د باران وریدو بویه ، د مسافر وتلو بویه .

د بارانه ولاړشو ، ناوي ته کښېناست

د بارانه تښتیدم ، د ناوي لاندي مې شپه شوه .

د باز په ځاله کښي باز زیږی .

د باز عمر لنډ وی .

د بد سره چه ښه کړي ، لکه خره ته چه وا ښه کړي .

د بد مرغه سړی غوا به په ژمی کښي لنګېږی .

د بد و د لاري ، لاغلی لا لړي .

د بدي خبري سل کاله عمر دی .

د بلای په ختم د ملا ارمان نه خېژی .

د بلای په ختم ملا نه ستړی کېږی .

د بلایانو په هیله ، خواران له خوارۍ ووا ته .

د بزې برخه چه وړی، نو به ډېر زحمت ګالی .

د بزې چه بدن کاوکی، د شپانه ډوډۍ خوری .

د بل په پرتاګه ځان نه پټیږی

د بل په لاس کښې مړۍ غټه ښکاریږی .

د بل په قول شرط مه تړه .

د بل په دسترخان سل مېلمانه ، هیڅ دی .

د بل پر مړی نه دی، خپل یاسین تېز وی .

د بل تر وریجو، غوښو ، سوړ سوړ سلک د کور ښه دی .

د بل تر زوی خپله پکه لور ښه ده .

د بل تر اتلسه خپله خمتا ښه ده .

د بل تلتك تر نیمو شپو وی .

د بل خره سام جن دی .

د بل د لاسه عسل ګڼلی پر دی، د خپل لاس ګڼلی پر عسل دی

د بل ډوډۍ ، یا پورده، یا پېغور

د بل زوی ، نه زوی .

د بل کار دایمان په رڼا کیږی .

د بل کار که دې ښه وکه لاس پرې تور، که دې بد و کړ
مخ پرې تور .

د بل کور چا خوار نه دی لیدلی .

د بل کور نیستی نه لری .

د بل وطن یاری ، دسر سودا ده .

د بنده مخ د خدای له نوره دی

د بنده هیله ګنده ده .

د بنده وېره ، په سترګو کښې ده .

د بنګړو باریږي ، زه دې ترم ته ورانېږي .

د بوري سود ، په بوري شي .

د بېکارۍ لار ورکېږي ، دکارداری لار رونېږي .

د بې پیره کار بد مذهبه کوی

د بې صبرو دې کور وران شي ، مو نږ ته یې په ځمکه واچوه .

د بې عقلې بښځې ، تل کمیس سوزی .

د بې غیرته کاله ، میلمه واکـدار وی .

د بې کاره ، خدای بېزاره .

د بې ننګو په ننګه به تل شرمنده یې .

د بې نیازه چه مروریې ، هغو نه سود من یې

دپاچا پاچاهی ځی ، د مزدور مزدوری .

د پاخه اوستاد پنګ په ورو ورو پخېږي .

د پای څې رنګ نه پرېبسود کېږي.

د پردی ابې نه ، خپله تبې ښه ده .

د پر دی په زوی . د عزرائل څه؟

د پردی اس نه ، خپل ټټو ښه دی .

د پردی توری مصری مې لور په غاړه ښه دی .

د پردی تور سرې ښه غواړه . د خپلې تور سرې د پاره .

د پړانګ سپینې منګلې ، شپنو پوڅې پرې و پشلې .

د پسرلی ترګلو دژمی اوربه دی ، تر ناسیا له ښځې جره

کور ښه دی .

د پشی اول ټس ته . څوك ځان نه نیسی .

د پشی منله تر کادانې پورې وی .

د پشی نظر په کولپی(۱) وی .

د پښی پردکان که ونه سوځې ، بخرکی به دروالوځی

د پښی کور چه وسو ، هغو نه ښه شو .

د پښتنو جوړه په پرده وی ، مرګ یې هسی پلمه وی .

د پښو خاورې سترګو ته الوځی .

(۱) خمیردان .

دپلار اشنا ، دزوی کاکا .

دپلار ګټه دامبار کوټه، دزوی ګټه دزړه غوټه .

دپوردلاسه ،دوه کوره خرابیږی .

دپوه سړی دوستی زیان نه لری .

دپېښې څخه تېښته نشته.

دپیغلې شل مخه په بوخچه کښې دی .

دپیل په یوه وخکه څه کیږی .

دپیل یوه تبه مرګ دی .

دتا چه څومره خیال دی ، زما هغومره مال دی .

دتالندې چه دربی شی، دشپانه ورته غړمبی شی .

د تبر خوله نیمڅې نیولې ده .

دتخته کږولو یږم، دځمکې نه لویږم .

دتربور په زړه سوی کښې، پېغور نغښتی دی .

دتروږې په ډېر اېرس ،رنګ یې بدکړ داولس .

دترم چی څه دی، یو پودی .

دتش ټوپکه دوکسه بېر بېږی .

دتشه ډاګه به سېلۍ څه یوسی .

دتورو مخ رڼا وی .

دتورې شپې ناره بې څه نه وی .

دتوری وهلی به جوړ شی، دخولې ویشتلی نه جوړیږی

دتوری ټپ جوړیږی ، دبدې خبرې ټپ نه جوړیږی .

دټولو نیمه نیمه، دابۍ شوه یوه نیمه .

دټپوس دخالې نه ، ټپوس پاڅی .

دجنګ څخه په روغ راشی، مګر له جنګله څخه نه .

دجنګ خوږې خبرې ، ساعت یې تریخ دی .

دجنګ شپې دې وی، دغم دې نه وی .

دجنګ میدان په پښو نه وهل کیږی .

دجنګه زه راغلم، خبرې ته کوې .

دځوانی یوه نیشه وی، نه چه همیشه وی .

دځوانی بیکاری، دسپین ږیر توب خواری .

دچا اول، دچا آخر .

دچاچه یوه سترګه ړنده شی، پربله لاس ږدی .

دچا دروازه مه ټکوه په ګوته، ستا به نه وهی په لغته

دچرګ په اذان نه سهار کیږی .

دچغال ترناز ، دزمری خیرل ښه دی .

دچغال کور ، بی چرګه نه وی .

دچنګښو من نه پوره کېږی ۰

دچیدی بهلاس وانه خلم چیدی ، که می سر پر چیدی پر ېشي چیدی ۰

دحق ښښتن ډاډه وی ۰

دخاورو ولاړ شو ، پرایرو کښېنا ست ۰

دخبرې مر ګټ هیره ده ۰

دخپل خپلوی ښهده، نزدیکت یې ښه نه دی ۰

دخپل کاله خور او لور کړمېزنه وی ۰

دخپل کورغل نه نیول کېږی ۰

دخپل وطن ګیدړ، دبل وطن ترزمری ښه دی ۰

دخپلوازار پده شته ، بېزار پده نشته ۰

دخپله نه رغېږی ۰

دخپلې کمبلې سره پښې غزوه ۰

دخدای امرچه وشي ، پلار یې نهوی زوی یې وشي ۰

دخدای په چارو د چاوس نه رسېږی ۰

دخدای داسې رضاده ، ابدله ودوو دتر ینې ورا ده ۰

دخدای کاږه دې خدای سم کړی ۰

دخدای ګناهګار په توبه خلاصیږی، او د بنده په ناڅه

دخدای نظر یا پرزه یر وزږ وی ـ یا پر نږیدلو قبر و ـ

دخدای چه رضا شی ، ورځ یې سمه شی

دخره بارچه در وندوی نه ځی

دخره مړی ، د سپوا ختر دی ـ

دخره ښبتن ته پېښه ده

دخره لګی چه له هرې خوا لو یشت کی ، دوه لو یشتې ده

دخره مینه لغته ده ـ

دخره نه یې کته لو یه ده ـ

دخوار په لاس کښې غلمینه ږوږی بده ایسی ـ

دخوار خپله خوار ی بس ده ـ

دخوار کاله وړی دې خدا ی ماړه کړی

دخوارانو برخې ، پر اغز یو څرخی

دخوار رنځور پو ښتنه رحمت دی ، د بلهای سړی منت ـ

دخوار ملا مسئله څوك نه اوری ـ

دخوار ملا په اذان څوك کلمه نه وایی ـ

دخوار سړی ځای به په زوړ ګېلم وی ـ

دخوا ښې هلته ورځ کږه شی ، چه دزوم کره یې شپه شی

دخوارې کونډې زویه، خپله روټۍ ژویه .

دخوارۍ څخه پر ژرنده ناست، دکبره مزدنه اخلي .

دخواریوه وزه وه، هغه هم ګوډه پړنده وه

دخورییې خادره، دماما دنغری څخه ده

دخولې او زړه وینا چه یوه شي یارانه ترې جوړېږي.

د خطایا ناغه وي، یا توبه .

دخیاله دلو نګو لو نه کوي، دلوږې څانښت کښېني ·

دخیرات وزیالنړی وي، یابوچی ·

دخیرات په خوا کښې ډېه کوی ·

دخیره مې دې توبه · کاسه مې په لاس راکړه ·

دداسې سړی په لاس مړ مه شي، چه سل یې نه وي وژلي ·

ددسترخان پر لمن څه دوست، څه دښمن ·

دداډو ورکې مېنې، ګازری خدایرام خپله یوړې ·

ددښمن کره ځم، دوست مې ګرودی

ددښمن دغصې، غم شړم په تماشي ·

ددکاندار سترګې تول دی ·

د دنیا پېغور، د آخرت تر اور کم نه دی.

د دنیا ښځه چه وفا غواړی، لکه د مړو ښځه چه خندا غواړی

د دوبی سخی، د ژمی صوفی نه دی په کار.

د دوبی کور د اختر په ورځ ګوره.

د دوو خرو ور بشی نه شی بېلولی

د دوست په منت خپه نه شې، د دښمن په خندا و نه غولېږې

د دوست پوستین می وکیښ، خو د دښمن دروازی ته، ر نه غلم.

د دوست لاس درد نه لري.

د ډوال عمر، له اخېړه پوښته

د دې کلی خور زه ده، په دې کلی واده ده.

د ړنداو به چه ړېږي ودرېږي. ګنده شی.

د ړمستر ګدې به تل په نغري وی.

د ډول آواز د لرې ښه خوند کوی.

د ړېر کار ړېره ګټه وی.

د ړېرو ړېر مری، د لږو لږ.

دروغو ته د رښتیا رنګ ورکول ګران دی

دریاب که لوی دی، چمچه دې خپله ده.

درویبار په دواړو مخ تور دی.

دریاب په لپه نه کمیږی .

دریاب په لوټه نه خړیږی .

درې پیټې ریشکه ئی وخوړله، دی یې لا مړه بولی .

دربدلی په چانه دی چلېدلی .

دزاړه غوایی، یوه جوپه ده.

دزړه مینه، په لاس نښکاره کېږی .

دزړه، زړه ته لاروی .

دړانده له نیولو، دکاڼه دوهلو دې خدای ساته .

دزرګر راستی دغه ده چه غلا ورڅخه و نه کی .

دزرو په قدر زرګر پوهیږی .

دزمری غار بی هډوکی نه وی .

دډیرو لرګی، دیوه غوزی .

دډیرو همسا، دیوه ګیډی .

دډیوې لاندې تیاره وی.

در باندې به یې وخندم ، و به یې نه خورې .

درشتیا ګوی دخولی سرسوری وی .

درکوم یې، مګر په کم کاڼی، په تشه پیمانه .

دروغ دایمان زیان دی ۰

دروغ وایه، په شرع یی روغ وایه

دروغجن دې دروغ وایی، هغه بل دې قیاس کوی ۰

دروغجن ، هېرجن ۰

دروغجن سړی هرچا ته سپک ښکاری ۰

دروغجن چه په دروغو ځان مجبور کړی هم دروغجن دی ۰

دزور اوبه په پېچومې هم څېژی ۰

دزورور څپلی، دخوار ککری ۰

دزوروروهل، دکمزوری ښکنځل ۰

دزوروریاری، دخره سپرلی ۰

دزوروړ ترخنګه مه کښېنه زړه وره ۰

دزوروړ لښته نه پوردی، نه پېغور ۰

دزوی په هیله مور، له مېړه ووته ۰

دزوی ناره په هغو ده، چه دخدای ورباندې پېرزو ده ۰

دزوی مېړانه دمور دتندی څخه معلومېږی ۰

دزوی په مېړانه، مور سر دسره ځوانه ۰

دزوی مې دې اور ته مری، دلور مې دې مېړه، نه بوره نه واره ۰

د ژاولن په کور کښې خپلوان شرمېږي، په ګور کښې مړدګان.

د ژرندې لار له ځوله ده.

د ژبې په توده، د دښمن په خوږه مه غولېږه

د ژرندې زه راغلم، لهواره ته خبر یې.

د ژمي په لمر مه نازېږه، د دښمن په خندا.

د ژمي پیتاوی دې هغه کوي چه کندو یې ډک وي.

د ژمي اور هر څوک ځان ته راکاږي.

د سبا خبره سبا کېږي

د سپو کور په کور دعوه ده، خوار فقیر ته یې یو دده.

د سپو د نیستۍ نه چغالانو په کور کښې ځای ونیوه

د سپو له خوارۍ، ګیدړ پر بام کوي بازۍ.

د سپي په خوله دریاب نه مردارېږي.

د سپي او د مېږه وینې نه تللې کېږي.

د سپي د مزده کړه، خو کوتک له لاسه مه غورځوه.

د سپي تر خوله چه هلو رسېږي، غنیمت دی.

د سپي تر لکۍ لاندې عمر هم تیرېږي.

دسترې يوه دمه، دوبې يوه مړه.

دستنې له سورۍ چا بار نه دی ایستلی .

دسر پر ځای مې پښې واي ، دژی خولهرا نژدې واي

دسر نه چه تیر شې ، قلندر شې .

دسلو بللو ځای کيږي، او د يوه نا بللي ځای نه کيږي .

دسلو کو لبو خاوند، يوه لنډي ته ودريږي.

دسلو مرغانو د پاره، يوه ډبره کافي ده .

دسلو (هو!) نه، يوه (نه!) ښه ده .

دسلو کالو موږ به، په سل کاله وږی نه شي، دسلو کالو وږی به، په سل کاله موږ نه شي .

دسلو غرو نه پنا ښه دی، نه د يوه سینده .

دسوال په او بو ژر نده نه چلیږی

دسور نا چې څه دی، بو پو دی .

دسوی دې خپلې غوښې دارو شی .

دسيال خواږه يا پو ر دی ، يا پیغور .

دسیل ځای ، کودر دی .

دسیند مړی چا کتلی

دشپې که ولاړ نه شي د روځې به مزله ته ونه رسيږي.

دشپې بند او بـو وړي دي.

دشپې هر سړی ډاريږي، خوک حال دابې، خوک يې نه وايي.

دشرمښ زوی، شرمښ وی.

دشلو ګلو يار، يوه ورځ شي په کار

دشنې ميږې ورې که شين نه وي شين ټکې به لري.

دشوم په شومي، رسول ټوا، پټي

دشوقد رشپه په شوګير ليده کيږي.

دښاردرو ازې ټولې کيږي، دعالم خولې نه ټړل کيږي.

دښاره زه راغلم، د نرخه ته خبر ئې.

دښاره ووځه، له نرخه مه وځه.

د ښځې چه د ميړه سره راستي وي، دکور ژوند ئي

په درستي ژي.

دښکار غوښې، دځان غوښې.

د ښکاري وار ور باندې نه جوړېده، د ننداره‌چي ورته بېړه وه.

د ښمن دې چه په ښا تو مري. په زارو يې مه وژنه.

د ښمنۍ په سلام نه ورکيږي.

د ښمن هغه دى چه اول أي (هو!) وى، اخير أي (نه!).

د ښمن يا سرته کوزري يا پښو ته.

د ښو په ښه وايي، د بدو به خو کۍ ځ وايي.

د ښې ځځه ښه زيږي، د بدو ځځه وانښه

د ښور وادې مرور يم، دغو ښودې پخلا

د ښې غو ښو، ښه ښوروا وي.

د ښه پلاره د ښه موره، بلاو زيږيده توره.

د ښه خوې ښايسته. په ښايسته نه کلږيږي.

د ښې ورځې مې يار، د بدې ورځې مې بيزار.

د صبر ميوه، په مراد پخيږي.

د صحرا موږ ګ راغى، د کور موږ ګ أې د ويست

د ظالم عمر د خر د جال پاچايي ده.

د ظلم کور وران دى.

دظلم عمر لنلږ وی .

دظلم کاـه اخر چپه دی .

دعالمه سره غم له غم دی .

دعلم برخه درنده ده .

دعقل وسه په عشق نه رسیږی .

دعقل مې کم بو دنشته خو بخت نه لرم .

دعقل وږی چالیدلی نه دی اود دنیا موړ .

دعقل وږی نشته اود دنیا موړ .

دغرض ښښتن لیونی وی .

دغاتر ې تر شامه تېر پږه، دملك تر مخ .

دغرو ځنګلو نه بې زمر یا نو نه وی .

دغریب په مرګ څوك نه ژاړی .

دغریب ملا پر اذان څوك غوږ نه نیسی .

دغریب سړی به دخیرات په ورځ غوا ورکه وی .

دغریب ملا پر اذان څوك روژه نه ماتوی .

دغریب سړی به داختر په ورځ په نس دردوی .

دغریب غابن به په حلوا ماتیږی .

دغلو ده ښه یاری، بده یې بېزاری .

دغلو مې کلی نه لید، د شګو مې خلی.

دغله په بېره خلی، غلګی لاس ورته نیولی.

دغله ځای په غره کښې نشته

دغله کلا چا لیدلې ده.

دغله مېږانه نېشته ده.

دغنمو له رویه ځوزاو بېږی.

دغنمو لار دژرندې ترخولې ده.

دغنی که زړه سوی وشی، خوار غریب به پاتې نه شی.

د کاږه تېکی سره کږه توره جوړېږی.

د کال خپله مې نه یې. خپلې شپې به درسره تېر وم.

د کال ښه والی. د پسرلی څخه معلومېږی

د کاله خوراوا لور کړ مېز نه وی

د کاله کشر مه شې، د کاروان مشر مه شې

د کاندارې اسانه ده، خو سختې یې ټوکرې دی.

د کان یې مه ګوره، مال یې ګوره

د کبر کاسه نسکوره ده.

د کبر ې توری، کوبړ چړ تون وی.

د کم اصل لوی تیا، د اصیل سپکتیا وی.

دکوټه یوه غوټه .

دکوچنی په ژبه خپله مور ښه پوهیږی .

دکور پیر چا ته نه معلومیږی .

دکور توریالی دی، خود بیابان خنډنی دی

دکور خبره، د بانډې مه کوه .

دکور ګټه، دلاهور ګټه .

دکور غم به صحرا ته یوسم، دصحرا غم به چیرته .

دکور غم، دګور غم .

دکور غم نه ګلول کیږی .

دکور نوم له نیستی نه ورکیږی .

دکومباړ(۱) په ګور کښی، روغ لوښی نشته .

دکونډی دوه غوایی وو، یو ووت نه، بل ننه ووت نه .

دکونډې هم زړه کیږی، هم یې ساړه .

دکونډې نه دین شو نه دنیا .

دکونډې غم د ځان وی، د لوریې د خان وی

دکونډې کره زوی نه ؤ، چه زوی پیدا شو مرګوګړه شوه

---

(۱) کومباړ کولال ته وایی .

دګونګي ږوه لوروه پهسګونګو لو ګښی یوړه .

دګونګي زویه، څهخو بویه .

دګونګي زوی، نیم پاچا دی .

دکوهي خټه، په کوهي لګیږي .

دګټي او توري ځای توپیر لري .

دګور خاوري، پر ګور لګیږي

دګوډي لار پهژرنده ده .

دګور شپه نه پر ګور کیږي

دګوملي مړی. لهګوملي غواړه .

دګونګ ژبه مور پوهیږي .

دګهِ نګ ژبه، ګونګ پوهیږي .

دګیدړ تر ناز، دزمري څپړ ښهدی .

دګیدړي او زمري اشنایي نه کیږي

دلاس غوټه، په غاښ مه خلاسوه

دلتِ غوايي اخر خاوند قصاب دی .

دلږ ولږ، د ډیرو ډیر .

دلښکر په اخر ځه، دماتې پهسر .

دلندو به څه لانده شی .

د لندو خټو لرې او به دارو دی

د لو رمېدې مېره مړ شي، دزوی مېدې اورته، زه دې ټوله
يمه سمته.

د لوګرې چه رضا نه وي. لور په لوټه اچوی.

د لولی واته يو شرم، او ننه واته يې بل شرم.

د لېرې دې ليدی نه شم، د نژدې در ته کتلای نه شم.

د لېوه چه خوله سره شي، په لسو پسو بند نه دی.

د لېوه سره چه غوښې خوری، له څښتن سره ټندی وهی

د لويو ويالو څخه خېزمه وهه چه لوند به شې.

د لوی منګی او به خوږې وی.

دماغ دې پيل وړای نشی، په کوړ کښې دې موږکان له لوږې
روژې نيسی.

دمارانو لارې چا بندې کړې دی.

دماړه کور به سترګې وږې وی.

دماهی چه اجل راشي، ځچې ته نژدې کېږي.

دمرچو په څټه ناست دی.

دمرد خواړه د نامرد په نس کښې پاتی کېږي.

دمرګ دارو ګران دی.

د مرګه مخ کښې ځان مه وژنه .

د مړو ر برخه، یا درنه ده یا تالا ده .

د مړو ر برخه، د نسو ر ده .

د مړي پسول څه دي، د ښې کور څه دي .

د مر یا نو لښکر څه وي، د خروچر چړ څه دي .

د میړی څپېړه، داورلمبه ده .

د مړا وواو بو و بېر ېږه، له تو ندواو بومه بېر ېږه .

د مړو به لا څه ښادي وي .

د مړو لا کله په قیامت نه وه رضا .

د مړي قدر، په ژوندی باندې وي .

د مړه څخه شیطان لا بېزاره دی .

د مړه مال، په مړه پسې ځي .

د مجبورۍ یو نوم صبر دی .

د مسافر د شپو حساب مه کوه، د سر خواست یې کوه .

د مسافرو ویر سوړ وی .

د مستې په مېچن، څه ورېشې څه غنم .

د مسجد سړی، په مسجد کښې لټوه .

د مسخرو اخر جنګ دی

د مشکو بوی نه پټېږی .

دمکې لار په منلوه نه خلاسيږي .

دملخ ورور يې، نه خوا بره ګوري نه ترخه

دملغلري يو آب دی . چه لاړ شي

دملك ترمخ او دغا تري ترشا مه تېرېږه .

دملك لور، په نامه غوښتله کېږي .

دمنګ کچکول پا تېږي، دپاچا پا چاهي .

دمنګري سر په دښمن ټکوه .

دموچي خونه هسې خوساوه چه باران پري وشو د بوزي يې ولاړې .

دمور زړه پر زوی دزوی پروچ کاڼی .

دمور غېږ، د زوی زانګو ده .

دمور يې شيدې لنګک وګوره، دلور يې شرنګک پرنګک وګوره .

دمو بږګک څه غم دی، په ژرندنه کښې يې کور دی !

دمېرانې او سپېڅتانې، يو ګام تر منځ دی .

دمېړو په مغزو کښې تل دتوري شرنګک وی

دمېړو پرده خدای کوی .

دمېړو يو لاس په چاړه، بل په خواړه .

دمېړه زوی ستر ګې غټې وی .

د مېړه ژوند د توري تر سيوري لاندې وي .

د مېړه سيالي کوه، د بخت يې مه کوه .

د مېړه يا خرپ وي . يا ترپ .

د مېړ يا نو کور له غمه نه خلاصېږي .

د مېلمه په بېړه، د کور به څه دي .

د مېلمه بېګا مخ وي، سبا يې څټ .

د مېلمه جواب، پېټی ده .

د مېلمه مېلمه بد ايسي، د کور به دواړه

د مين کام، د شهادت جام دی .

د مينځې مات سر ته ګوري، د بي بي زړه ته نه ګوري .

د ميو غوندې، په يو مخ کولېږي .

د نا اهلو څخه پت مه غواړه .

د ناز خواړه يا تاوده وي، يا بلمنګه .

د ناست زمري نه، ګرځنده ګيدړ ښه دی .

د نا کسه اشنايي، د خره سپارلي .

د ناوختې مېلمه يې له ملا خوري .

د نژدې ور ته کتلای نه شم، د لرې يې پر پښو لاى نشم .

د نس پرسته لاندی، په خپله کښی تمامیږی ·

د نشت نه موزی ښه دی، کټ پرې ږدی وی ·

د نغری غمخوړ نشی ګلولای ·

د ننګرهار له ټوپی نه سړی سرتور ښه دی ·

د نورو نیمه، د دانا یوه نیمه

د نورو تلوار دی، ما ته یې په ځمکه راواچوه ·

د نوك پر ځای سوك منلی ·

د نوی په هوس، زاړه یې کړه خس خس ·

د نه زویه مینه نه ورکیږی، د سپی زویه مینه ور کیږی ·

د نه میړو، ملك شو بلو

د نیا بلبل دی، ګله د یوه ګله د بل ده ·

د نیا په دوستر ګو خپله، په دوو پردی

د نیا په دنیا ورځی ·

د نیا بادده باد به یې یوسی، د پاسه به او دل راشی تر قیامته
په پراوسی ·

د نیا په امید خوړ له کیږی ·

د نیا تر سر جار، سر تر ناموس جار ·

د نیا خپله لری، روی پر عالم ·

دنیا داره چه دنیادې ډېر وله ، سپین کفن دې بوړ دغه زوره دې پرچا وزېر مېله .
دنیا ډېر ېږی ؛ زړه تنګېږی .
دنیا هغه نه معلومه ده ، چه ښبه ګړی یې ده .
دنیا سوی ، هر ساعت مرګ دی
دنیکانو له قدمه ، بدان ودتل له غمه
دایمې ورځې حکومت دسلو کلو کور خرابوی .
دوادہ نه ورتسته سندرې څه په کار .
دوبی دخوار د غریب جامه ده .
دو چو له غمه ، لانده سوځی .
د ود له کندې څېژی .
دود نبایستو لره ځی .(۱)
دودونه هغه‌دودنه‌وی ، چه دسخا پکښې رود ونه وی .
دوران ، پر هر ګوروان .
دورځی دتوتو په خوړ لو شر مېږی ، دشپې یې له پچو سره خوری .
د ورور خور مې کې ، محتاجه مې مه کې .
دورور څخه ګټه ، څو نه ګټه نه‌ده .

---

۱) دامتل د کند هار وخو ادی .

دوروره دې وراره شو، دوراره سره دې خه شو ·

دوره پورې ولاړوې ، دمنی ورغ وې ولاړې ·

دوړی ترپام ، سړی غوښې دی ·

دوړی سترګې ، په دېګدان کښې وی

دوست او دښمن په يوه سترګی ګوری ·

دوست اشاری ته ګوری ، او دښمن وارې ته ·

دوست بهدې وژړوی ، دښمن به دې وخندوی ·

دوست ته حال وایه ، دښمن ته لاپه وهه

دوست ته دومره تمه کوه ، چه دلاسه یې کېږی

دوست ته تشه پیاله، دښمن ته ډکه

دوست دې کوم دی، چه سهار دې اورویني مابنام دې کور ·

دوست روزنه غواړی ، دښمن ترټنه

دوست د سختۍ دپاره ښهدی ·

دوستی دسلو کلو لار ده ·

دوطن په قدر ، مسافر ښه پوهېږی

دولت له اتفاقه پیدا کیږی ·

دولت دلاس خیره ده ٠
دولت دې دڅان دی، عزت دې په جهان دی ٠
دولې مېوه لاس ته نه راځي
دومره مه لوئېږه چه ما نه ګوري ٠
دونه ټوپ وهه ٠ چه دپښو ونه لوېږې
دوني سل کاله عمر ٠ دمرغه ېږي یوه شپه ٠
دوه به سره جوړشي، که دریم يې ترمنځ نه وی ٠
دوه یك ، هغه هم سره ورك ٠
دوه وروڼه ، هغه هم سره تر برونه ٠
دوه وروڼه ، دریم حساب ٠
دوه که لامچان شي ، دیوې بلا تمام شي ٠
دوه ګوتي مې توري کړې، په تا خوارې مې پورې کړې
دوه لغ ، په نه سره پټېږی ٠
دوه لغ په حمام کښې ښه سره ایسی ٠
دوه مرغان ، یوه يې ځاله، خبر نه دی یو دبل له حاله ٠
دوه ورې چن په یوه وخت کښې بد سره وړی ٠
دوه غوایی چه ښکر په ښکر شي، زیان د بوټو کا ټو دی ٠
دوه هندوانې په یوه لاس کښې نه نیول کېږی ٠

دهر چا سره خپل سیوری مل دی

دهر چا ښه ، دخپل ځان ده .

دهر چا په سر کښې یوه پیا له بنګ دی .

دهر سر د پاسه ، سر دی .

دهر سړی آب ، په خپل لاس کښې دی .

دهر شی خوند په مالګه ښه کیږی . دمالګې خوند به په څه ښه شی .

دهر شی جامه خیر یږی ، د ښه خوی جامه نه خیږی نه زړیږی .

دهغو تازیانو خولې توری دی ، چه ښکار کوی .

دهغه زغله چه یو وار هو کی . بیا نه .

دهغه مه بیریږه ، چه له خدایه بیریږی

دهغه و بیریږه ، چه د خدایه نه بیریږی

دهوښیارانو ویل ، د کاڼی ښکل دی .

دهوښیار بلا دې ورکه وی .

دهوا مرغی شل د پیسې .

دهیڅچا څراغ تر سهاره نه لګیږی .

دهیلې مخ تور دی .

دهیلی بچی ته لامبو مه زده کوه

دیار ترخې خبرې . خوږې لګیږی .

دیار سره یاری کړه ، په عیبو یې غرض مه کړه .

دیتیم او ښکې په خپله مور پا کیږی .

دېوال نم زړه وی ، انسان غم .

دېوالونه هم غوږونه لری .

دیوې ونې لرګی ، څه لوی څه کمکی .

دیوستوری نه ، دوې پچې ښې دی

دیوزر تیلاؤ نه ، یو بخت ښه دی .

دیوه زیان ، دبل تکیه .

دیوه سپاهی به څه دوړه وی .

دیوه لاسه ټک نه خیژی .

دیوه مړیې د سلو بادار .

دیوې ورځې حاکم ، د شلو کالو کور خرابوی .

دیوې سپرې دپاره پوستین اور ته مه اچوه .

## ډ

* ډال چه ګرزوی ، ځان به سا تی .

ډاندوغ به یاوینې خوری . یا سپینې .

ډېره چه پرځای پرته وی ، درنه وی .

ډېره د یتیم په سر لویږی .

ډېره یوه نېک مرغه ، یوه بدمرغه .

ډېرې اړدې ، لړم ترې لاندې غواړې .

ډکه کاسه خامخا چړېږی .

د مان څلور کسه په ښځه پسې تلل ، مګر د ې کسه چیغې یې وهلې .

ډم چه ډول وهی ، زور یې لری .

ډم خوموړ شو ، چه پاتې یې کور شو .

ډمه ګلېډلې نه شوه ، ویل یې ځمکه کږه ده .

ډنډه به خپله خوری ، سترګې به نوروپرې سرې وې .

ډوډۍ پردۍ ښوروا ته مه وړه کوه .

ډوډۍ خپله خوره ، عقل له بله زده کوه .

ډوډۍ د نانوای ځی . زړه د بټیاری چوی

دوډیه د لونبې له مخې خوړله کېږی ·

ډوډیه زماخوری ،(۱) توتو دسلاخانې کوی

ډوډیه که د بل ده ، نس خو دې خپل دی

ډول په بیه ٠ کبر وړیا ·

ډول په تیر اغږ یږی ، مامندی کو رګلوېږی ·

ډول سوری ګوته پکښې

ډول یې دلېونی په لاس کښې ورکړ ·

ډولو نه مې تر خولې تېر دی ،دا یې ډمبکې دی

ډېر کار ،ډېره ګټه .

ډېر مه‌وایه، چه لږ خېژی

ډېر ویل دقرآن نه ده

ډېره ګټه ، دمایې سرخوری .

ډېریې نه مو ندل ، لږه یې نه خوړل

---

(۱) کندهار دسیمې دی .

# ر

۞ راتلګ په اراده، بیرته تلګ په اجازه ·

راست اوسه، پرلویه لار ناست اوسه ·

راستي زوال نه لري ·

راکه زما چوټۍ، بیزاره یم دکټۍ

رښتیا ویل ترخه دي ·

رښتیا وایه، په کوچنۍ یې وایه ·

رښتیا که نه وایم الله مې نیسي، که یې ووایم عبدالله مې نیسي ·

رښتیا یا زور ور وایي، یا لیونی ·

راغلي پکښې کښېوتې، ولاړ پښکې پرېوتې ·

رغستلي، له منځه وتلي ·

رمه که له شپانه خوشې ده، له ښتنه خو نه ده خوشې ·

رنځوره آن دې تمام شو، چه لقمان پرتا نادان شي ·

رنځو نه دکرمی، علاج یې دسردی ·

رنګ دې دغله، ناستې دې پرخه ·

رنګ مې ګوره حال مې پوښته ·

(۱) ځینې پښتانه یې ورغستلي بولي ·

رنګ یې دګل ، خوند یې د پیاز .

رنګ یې دملا ، عمو یې د بلا

رنګ یې مه ګوره خوند یې ګوره .

رنګ یې دګلیګی ، ولاړ د ګول پرغای (۱)

روپۍ ، روپۍ پیدا کوي .

روپۍ که کوچنۍ ده ، کار ونه غټ کوي :

روټه نه د کاله خوښېږي ، نه د مېلمانه

روغ که یو ده ، وختونه ئې ډېر دي .

روڼ له وباله خوښېږي

روژی چاپه منلې نه ده نیولي .

روغ صورت نیمه پاچاهي ده .

روغ صورت نه پټېږي

(۱) یعنې رنګ د خوښې امګر دلوي غوایي پرغای ګول (د سروغنمو پرداشه)

## ړ

۞ ړانده ته شپه او ورځ یوشان ده ·

ړانده ته دخولې لار معلومه ده ·

ړانده ته مه ګمېږه کاڼه ته ډول مه وهه ·

ړوند په خپلو سترګو بینا دی ·

ړوند په خپل کور ښه پوهېږي ·

ړوند په ګوډ پوري خاندي ·

ړوند په موږي هره ورځ نه لوېږي ·

ړوند خو ړوند یم سترګو ته مې ولې ډ کې راوړې ·

ړوند څراغ څه کوي ·

ړوند له خدایه څه غواړي، دوې سترګې ·

ړوند یو واري· امسا ورکوي·

ړومبی دور وستی پل دی

# ز

❁ زاړه ته یې ویل مه خیر بړه، ده ویل مه غر بړه .

زاړه و لاړ په خواړه دی، چه خواړه نه وی نو مړه دی

زامن خواږه دی ، غشي یې کاږه دی .

زر پر غره لاړ جوړ وی .

زر تر سږ کال، پر کال قدرمن وی

زر چه وی، زاری د څه ده .

زر چه پاک وی، له اوره یې څه باک وی

زر زر ګرځو لوی، خبرې د رویږ ګرځو لوی .

زر ګر غولولی، په شلم کال پوهېږی .

زر که سږ خواږه دی ، کال ته هم خواږه دی .

زر غونه به لنګېږی، احمد شاه به غني زېږی .

زر بنده چه میر شی، چه میر شوې بیا زر نه بردی

زړه بوډۍ پر خره سپره، چار تار وهی .

زړه بلډۍ اودوکا ته ځنې

زړه په خوله بد پرېږي .

زړه چه مین شي ښایست نه غواړي ، خوب چه ور شي بالښت نه غواړي .

زړه د مینې کور دی ،

زړه زړه ته لار لري .

زړه شوم ، پاکیزه شوم .

زړه وریو وخت مري ، او بې زړه تل

زړه هینداره ده .

زړه ئې ښه که ، کار پرې وکه .

زړې خبرې ، نوی توبرې

زلفې سنبل ، نس مې پر بل .

زلفې د خیاله زنګېدې ، باد پرې بد نام شو .

زما ښه شي ، ستا ګنده شي .

زما هله هله ازلی بر خه مې ګړه تر چا نړه .

زما پور دې پر کار که وی ، د کار ګه مرګی دې ز ، و مـ

زمادې خواست ورك شي ، ستا دې داد .

زما زویه ، تر مالویه

زما غوږی ستا پر کور تولو پرې ، . .

زما یوې روپۍ، زه ئې خال کړم که اوږی ·

زما نه منې، د خره منې ·

زور چه قدم کېږدی، عقل هلته ږېږدی ·

زور چه زور ور شی، عقل مرور شی ·

زور چه را شی، د حساب ملا ماتوی ·

زور چه له بخته جلاوی، په بدو مبتلا وی ·

زور چه پرې ور شی، عقل لړو برشی ·

زور چه زور ور شی، پټې له تخمه سره خپل شی ·

زور ته پوله نشته ·

زور خو زور، چل هم د زوره کم نه دی ·

زور ور دې تر پام کمزوری مه شه ·

زور ور غوېی، د غولی منځ نیسی ·

زوري د ملخ تراپې پرمخ ·

زړه پیوند وه، بربنډ به نه شې ·

زوړ غل په خپل اولس کښې غلا نه کوی ·

زوړ غوېی لونجاړه په خوب کښې وینی ·

زړه که بار نشی وړای، لاړوړای شی ·

زړه نه باله شی، نه شاړه شی ·

زوم ئې دځوسر له نغري احلې .

زوی چه ونه ژاړی ، مور تې نه ورکوی .

زوی ته اړ ګوره ، لور ته لوړ ګوره .

زوی ته د مور په سترګه ګوره .

زوی مې را ملا کړه ، کلې مې ولاړې .

زوئی په ښه دې غواړم ، دځان د ښې د پاره .

زوی یې غوښت ، خیر ئې نه غوښت .

زهر څه خروار خوړلی ، څه مثقال .

زه او ته له یوه اصله ، زه نو ولې شوم کم اصله

زه او ته راضي ، څه به وکاندی قاضی .

زه به څه کوم راتور ، چه غومبر وهی په زور .

زه پړ تا ، او ته خطا .

زه پور غواړم ، ته نور غواړې .

زه پوهېږم ، او خپله ښځه .

زه په تمه ، ته بې غمه .

زه تر تا جار ، ته پر ما .

زه چه ستا سپېرې خولې ته ګورم ، رنګ دې د یتیم
رامعلومېږی .

زه ځان خوړم تا له، ته خا کېږې ما له .

زه د ابه مزدوره، ابه د کلي مزدوره .

زه دې باغ نه وینم، ته وایې انار ودرغی .

زه ئې په پېرې شك لرم ته د رته مريدان نيسې .

زه دې پر مړي ژاړم، ته مې په حوله پورې خاندې .

زه دې پوزه غوڅوم ته پېزوان غواړې .

زه دې حق نه ګڼم، ته وايې چه درانه ئې وتله .

زه دې نه کړم، ته شين کېږې .

زه دې درانه منم، ته سپر لوراته وړې .

زه چه ستا برمنګ وم، ونه د لونګ وم .

زه ړه ور ړم، دی سیخ راوړی .

زه ستا دارو، ته زما دارو .

زه ساده ته حرام زاده .

زه ګورم تا ته، ته ګورې ما ته . کار شو تر منځ پاته .

زه وایم اوړه نشته، ته وایې پتېرې پخې کړه .

زه یم ستا د غاړې، ته له ما څه سپېرکی غواړې .

# ژ

ژ اولې چخو ښیا شوې ، نه د تا شوی نه دما شوې .

ژرندہ اوجومات نه پېژنی .

ژ به لنده لښته ده .

ژ رمه ګلهٔ بره ، چه سپك نه شی .

ژرنده په چل ګرزی .

ژرنده چه بار نه لری ، په خه به ګرزی .

ژرنده ګړی خدای خوار کړی ، څټه پرته اومزد خوړلی .

ژرنده که دپلار ده ، هم په وارده .

ژرنده که هرڅو مره ګړندی شی ، لا نده غنم نه اوړه کوی .

ژرنده وګرزی ، چه اوبه وکړی .

ژرنده ما ته شوه ، ټکټکی ئې لا نشوری .

ژړا هم دزړه زورغواړی .

ژمی کله وی ، چه بادباران وی .

ژمی دې تود مه شه ، دوبی دې سوړ

ژمی دخوار اوغریب زیان دی .

ژوندې ورك شه له مرګه بتر .

ژوندئې ګران ، مرګئې ګران .

## ز

۞ بزغ دملا . امين دكلى .

بزيره‌زما، واك أي دملا .

## س

۞ ساپى سمسكي .

سپرهغه‌ګرزوى، چه‌تورونه اوبه‌سموى

سپما-سپما، نه‌له ادي نه‌له‌ابا .

سپمولى، سپوخوړلى .

سپوسى، په نرى‌ځاى شكېږى .

سپورد پياده له حاله خه‌خبردى .

سپورخور، خاوري خور .

سپى په هلوكى نه خوږېږى .

سپى چه خړ مره غاپى، هومره نه ترا پى .

سپى چه ايسار شى، يا .... يا غاپى .

سپى چه ګرزوى، په هلوكى أي وله .

سپی چه غاپی، څه وینی ·

سپی خپل بادار نه پېژني ·

سپی د پیل په سیوری کښی ته، ویل ئې دا سیوری زما دی ·

سپی دې هغه وخوره، چه پېژنی دې ·

سپی ډېر د ځان د پاره غاپی، لږ د کور د پاره ·

سپی غاپی، کاروان تېرېږی ·

سپی کور په کوراخته وی، خوار فقیر ته یې یوه وی ·

سپی که هر څو مره بد شی، بیا هم د څښتن کور ساتی ·

سپی هډوکی خوری، ځان ته یې نه انګېری ؟

سپی ئې وهه، چه خاوند ئې ووېرېږی ·

سپی یې د کوره په زغاسته تېرېږی ·

سپین ټکی د هر چا خوښ دی، مګر د پیښور پسې کښې لوېږی

سپین غر بې واوری نه وی ·

سپین ویل یا لېونی کوی یا زورور ·

سپین والی د زړه ښه دی، نه د ویښتو ·

سپین ویښته د مرګ استازی دی ·

سپینه ورول کا، توره وېرول کا ·

سپیته وایه چغه شه، د چا د مخه ·

سپینې ږیرې سړیو ته، ښځو په سر کړې دي.

ستا څه کمې دي، چه په لاس دې سور غمې دي.

ستا دا به خورو، زما دا به ساتو.

ستا یې و ابښ، زما یې غاړه.

سترګې پټوه، شمکۍ(۱) ټپروه.

سترګې په بڼو نه درېږي.

سترګې د سترګو شرمېږي.

سترګه ړنده ښه ده، نه لار کوره.

ستړو وګټل، هوساوو، وخټل

سخ د هغه چا، چه غم یې پر بل چا.

سخت ساعت، یو ساعت.

سخوندر د موږي په زور غورځي.

سر بېره ښوي، د ننه ګر بیني.

سر په خپلو پښتانو نه درنېږي.

سر ټپلی، من خوړلی.

سر چه د شال وړوي، له کشمیره ور ته راځي.

سر چه بې جنجاله شي، کلهوشي

سر څه په یوه لوټه سپېره، څه په لسو.

---

(۱) شمکۍ یو ترېخ بوټی دی. چه اوبه یې د تبې د پاره دوا ده.

سر خريلى ښه دى، نه پړه شړلى .

سر ده پړى، جنګک د ميندو غوايى .

سر دې اسمان ته رسېږى، او عقل دې تر ښنو لاندى دى .

سر مې ګاټه ، غوږ مې بايلود .

سر مې لوړ دى؛ چه بابا مې په لښکر دى .

سړى کسه، جامه پرې نېسه .

سړى غر و نه دى، ښځى يې اړمونه .

سړى يو نور، جامه ئې بل نور .

سک چه نوره و باسى، بېواره نه وى، غنم چه وړى و باسى بې باره نه وى .

سلام ئې نه اچاوه چه وائى چاوه پر . . . وخوت .

سل جادوګر، يو غيبتګر نه دى سره برابر .

سل خويونه نور کړى، يو به د مور هور کړى .

سل دې تنورونه دى، يو موټى دې اوړه نشته

سل ددې موره واى، پر مور دې مه واى .

سل دې ومره، يو دې مه مره .

سل د زرګر، يو د ګګر (اهنګر) .

سل د پور يو د ايکى د کور برابر نه دى .

سل روپۍ پور که ، زوى په بازار لوى که .

سل روپۍ پور که ، داختر شپه په کور که .

سل کاله دوني ، یوه شپه دمرغۍ .

سل کاله بندی وای ، خوسایې دژوندی وای .

سل کسه هندوان وو ، بدرګه ئې لانوره غوښته .

سل مړی پردې کوی ، یومړی نخرې کوی .

سل مڼې خوره ، یوه به دې زهر شی

سل ئې ګوری ، یو ئې غواړی .

سل ئې مړه کړه لا ئې بدی نه بولی .

سلواغه هره ورځ په څا کښې نه لوېږي .

سود په لاس ، پیسې تر کاله .

سور دی سور پدلی ، تراووګنو وتلی .

سور سپی ، دسور لنډی ورور دی .

سوی چه بارسی ، بار بې څه وی .

سوی چه خروړی شی ، څوك به وخوری .

سوی دخاوندوی ، سپی هسې مندې وهی .

سیالی می دخانانو سره کړه ، کور می وران شو .

سیال می ئې ، مخې می نه ئې .

سپر خورم ، مثقال کټم ، بی بی اوسم ، که در ځم .

سیلاب لوی کاڼی رغړ وی ، کمکی پرخپل ځای پر پږدی .

سینه دې دریاب که ، خوله دې بېړۍ .

سین په وښو نه بندېږی .

# ش

شپه به وی ، یاران به نه وی .

شپه که تیاره ده ، مړی په شمار دی .

شپه یوه ده ، غله ئې ډېر دی .

شپې ورځې لکه دارهټ منګوټي کله غم راوړی کله ښادی .

شپږمې داپوه کار نه دی .

شر چه غواړې ، پرې پېښ به شی .

شرع زړه مړی که خو له .

شرع ښه ده ، دښو مېړو په ښه ده .

شرع ظاهر ګوری .

شرم په سترګو کښې دی .

شرم دایمان پوښ دی .

شرم د بدې چارې ، ښه دی .

شرم دهغو وساتی ، چه په شرم پوهېږی .

شرم مې کوت ، بیخ مې خوت .

شرمښ څه غواړی؟ بادوباران ۰

شرمښ هغه مېږه وړی ، چه له رمې څخه جلا وی ۰

شرمښکی دمار سره غزېده ، پرمنځ وشلېده ۰

شری‌سړی ، په مکه کښې ارام نه لری ۰

شکونې که حلال دی ، رنګ ئې دمرداردی ۰

شلو مېږ او ښور وا دېی خونده سړی لړېږی ۰

شلو مېږ وړه ، مستې راوړه ۰

شنې په غلا نه چیچل کېږی ۰

شنې که‌اسانه‌وای ، سپروبه پلوته نه‌ورکولای ۰

شوده راوړه شلومېږ وړه کور دې خپل دی ۰

شولې په یوه ټك نه سپینېږی ۰

شولې‌مې دې شلولې وی، خودسیال‌سره مې‌دې سمی‌وی

شیخ پریده ، خوله پټه بهتر ده ۰

شیطان ته ئې ویل خاورې خورې ،ویل ئې چه غوړی ورسره دی ۰

# ښ

ښادی دربا ندې غم دی، چه په تاپسی لړم دی .

ښادی دیاری ، غم دوراړې .

ښار په نرمه ژبه خوږ کېږی، نه په کلک کوتک .

ښایسته په سلو کښې یو وی .

ښایسته ګل ته د هرچا تلوسه وی .

ښایسته مخ دخوږو وزړو مرهم دی .

ښځه په کور ښه ایسی ، ژرنده په شور .

ښځه چه زړه شی ،خوله یې پسته شی .

ښځه د تن جامه ده .

ښځه دمېړه په خوښه ده ، نه د کلی .

ښځه د ښامار جنګ ته تیاره ده .

ښځه ګړه پښتیه ده، ما ته به ئې کې، سمه به ئې نه کې (۱)

ښځه که هرڅومره ښه ده، دسړی ځای نه شی نیوله .

ښځه یا پرکور ، یا پرګور .

ښځه می دې نجل وی ، او زامن می دې سل وی

(۱) مطلب تری ناپوهه ښځه ده .

ښکار تازی و کړه، خوشالی کوټه(۱) کوی .

ښوې جامې ، شوې درنې

ښه انګور چغال هم خوری .

ښه ، او به هم نه وړی .

ښه باران پر ناوه معلوم مېږی .

ښه به دې دښو کړم ، بد مې چه دمور زوی شی څه به يې

سود کړم .

ښه به دې لوړ کړی ، بد به دې ځوړ کړی .

ښه په بد وهم معلومېږی .

ښه په ښه سړی کړه ، يا به ئې درکړی يا به دې ياد په

ښه نامه کړی .

ښه پردې دنيا وی .

ښه پر دنيا کېږه ، پر عقبی تو ښه ده .

ښه پر چانه ورکېږی .

ښه پر بدو ، د مېړو کار دی .

ښه په ښه دی ، بد په بد .

ښه جالوان دطوفان په ورځ معلومېږی .

(۱) کوټه پسی چه دښکار او منډی نه وی .

ښه چه څوك پېژني ، بد به ولي كوي .

ښه چه ياد كړې ، نو بې برباد كړې .

ښه حال به دې سود من كي ، بدحال به دې هم يك هم
پمن كي .

ښه ، خپل ځان ته ښه راولي .

ښه خداى ښه بللى دى .

ښه خدايه زور وره ! مور مه كړه د مور مزدوره .

ښه خوى به دې سلطان كړي ، بدخوى به دې حيوان كړي .

ښه خوى ، د سړي گاڼه ده .

ښه دوست په بد ځاى كښې معلومېږي .

ښه دې دنورو ، بد دې زما .

ښه دخپل وى ، چه تل ترتل وى .

ښه دې هم د مېړه ، بد دى هم د مېړه .

ښه د هغه چاسره خوند كوى ، چه پرې پوهېږي .

ښه زوال نه لري .

ښه ژبه ، د خزانې كونجى ده .

ښه ښه دى ، بد بد .

ښه عمل ، د لارې مل .

ښه کړی خوري ښه کړی چه زما له کوړ ی ه ئې کاږې

بيا يې بېرته راته پاخه کړی .

ښه کوه بد مه کوه .

ښه کوه ، له پاچا مه بېربېږه .

ښه کوه چه بد نه وينې .

ښه ميره ، له مور نه زياته وی.

ښه مې غواړه ، ښه به دې غواړم .

ښه وکه ، په تاخچه کښې يې کښېږه يوه ورځ په دې

پکار شی .

# ص

صبر که تریخ دی ، میوه یې خوږه ده .

صبر در نه بر خه لری .

صبر د مېړولوی هنر دی .

صفره ووته ، بلا ووته .

صورت ئې ښځ ، په کار کښې لټ .

# ط

طبیب هغه دی چه رنځ پرې تېر وی .

# ع

عاشق سر نه لري ، غم دلښکر نه لري .

عاشق تل لو غړن وي .

عاصي پوهېږي ،او دوزخ ئې پوهېږي .

عاقلان بدي ور کوي، بې‌عقلان په بدو ځان اخته کوي .

عاقل به ځان ناپوه بولي ، بې عقل ځان پوه بولي .

عاقل پرمخ ځي ، ترشا ګوري

عزيز دخداى نوم دي (۱)

عشق او مشک نه پټېږدي .

عشق ئې چه پټ شه ، ځان ئې سټ که

عقل په سر دي ، نه په کال .

عقل په پيسو نه اخيستل کيږي .

عقل چه ئې کم وي ، پر کور به ئې تل غم وي .

عقل دعزت ورور دي ، که عقل لري عزت ئې پور دي

عقل عقلمند غواړي ، هنر هنرمند غواړي

عقل که نه لري څه نه لري عقل که لري هر څه لري

عقل که څوک مومي، دولت کور لره ورد رومي .

---

(۱) دا متل دعزيز ولي‌ارقام ولي دستاينې په ځاى کښې استعماليږي مطلب دا دى چه قومي‌عزيز ډېر ښه دى ځکه چه عزيز دخداى نوم دي .

# غ

غاترې ته یې ویل پلار دې څوك ، دې ویل آس غوندې ماما لرم .

غټه ګوله کومې خیرې .

غټې سترګې ځان وینی ، وړې سترګې جهان .

غر به د ر په شا کړم ، توان به دې پیدا کړم .

غر په غره نه ورځی ، سړی په سړی ورځی .

غر که لوی دی ، په سر یې لار ده .

غر په پړ پټوی .

غر ولاړ ، غشی یې یووړ .

غریب هندو دی چه ، ایمان نه لری (۱) .

غریب سړی او برګك سپی .

غریب ته یوه ګیلمه مستی پسر لی دی .

غری زمریان ما توی ، غوښې ګیډې وخوری .

غړ که شار بی په در بی ، کوچ[illegible]ئې خوری توره پښی .

(۱) په داسې حال کښې چه یو سړی ځان ته غریب وایی یا بل څوك ورته غریب ووایی نودی وایی چه غریب خو هندو دی چه ایمان نه لری .

غړ که هر څو چه شار بل کېږی ، کوچ کوی ۰

غړی ، دغوږ پوښی ۰

غلا کړه ، بلا دې پر ما کړه ۰

غلامه کوه ، له هېڅ ماله بېږ بېږه ۰

غل اوسه ، په انصاف اوسه ۰

غلبېل ولاړ شو ، کوزی ته یې وېل په تا کښې دوه سوری دی ۰

غل په غلا نه شرمېږی ، ته ئې په نیو لو شرمېږې ۰

غل په غو جل کښې پټېږې ۰

غل ترکوره پورې مه شړه ۰

غل چه غلا ته ځی ، قسم په شا کړ زوی ۰

غله څه غواړی ، د ځان مله غواړی۰

غل غل پېژنی ۰

غل که نه تښتی ، مل دې وتښتی ۰

غل که هوښیار دی ، قافله والا بېدار دی ۰

غل له خپل سیوری څخه ویرېږی ۰

غل له خپل ترپ نه هم ویرېږی ۰

غل له څوکی داره نه ډار پرېږی

غل هم‌وایی خدایه ، مل هم وایی خدایه .

غل یو ، لارې ئی ډېرې

غلو سل کوروونه وران کړل خپل ئی ودان نه کړ

غلو به قافلې وهلې ، نو نه چه کو ټې یې وهلې .

غله ته‌وایی غلا کوه ، دکورخښتن ته‌وایی بیدار اوسه

غله ډری وهی ، بدبختی پلمی وهی .

غله کوروونه وهی بد بخت زوروونه وهی .

غلیم چه‌ژوبل‌وی ، دوستان به ډېر وې .

غلیم که‌دې دسروی ، تر خپل منافق بهتروی .

غم بددی غمجن بددی ، دوست‌غواړم‌دښمن بددی .

غم‌دی دلالی په سرمستۍ‌دې تازه ګرزی .

غم‌له غمه نه‌شرمېږی ، پروناېی‌مړه‌وه ، نن توره چرګه .

غنم ئی لاپاخه نه‌دی ، ژرنده کښې‌ئی اوس وارنیسی .

غوا که توره‌ده ، پی‌ئی‌سپینې دی .

غوایی حلال نه‌دی ، ښانک په سرګرزوی .

غوایی چه‌سره ښکرپه‌ښکرشی ، زیاردبوټواوکاڼودی

غوټه چه په‌لاس خلاسېږی . په‌غاښویې مه‌خلاسوه .

غوږ پر غوږ وتوئیږی .

غوږی په ګوتی، اوږه په موټی .

غوږی دز پرېږی غوا. کوچ د سپینې غوا .

غوږی چه پیر شی، څوک ځان نه پرې غوږوی .

غوږی لا غوږ .

غوږی یې ګاټه، سر ئې بایلود .

غوښتو پلمه غوښته د بنئ خوله وخته .

غوښې چه پر قصاب ارزانه شی. پر جهان ارزانه شی .

غوښې خانانو وخوړلی، پر هډوکو ئې سپی جنګ کوی .

غوښه که وسوځی هم له پیتو نه ښه ده .

غوښې د هر چا خوښې دی، مګر پیشی ایمان پرې راوړی دی

غوښه د هر چا خوښه ده. خو د پیشو ورپسی کسی لوېږی .

غوښې دې هغه خوری، چه توری وهی .

غول خوری، مښو له څنلهی .

غوندی ګلېګی تشوی. جوالونه کوچنی تشوی .

غویی دی چه په وندری لوی شو، غاښونه ئې مه ګوره .

غویی چه زوړ شی، په خوب کښې کونجاړه وینی .

غویی د بزګر ملا تړ دی .

غیرانو نه چه پر خره باندې شی نوم ئې غیرت خان شی .

# ف

فقیرانو ته کوخیمه ښیه

فقیرته یو ور پورې، سل ورونه پرانستی .

فقیره کوږدی چپر دی، ویل هر چپر ې .

فقیری بی مکره نه کیږی .

فقیر خو فقیر یم، کچکول مو هیین دی .

فیل په مالګه څه پو هیږی .

فیل چه مړشی هم په نس کښی یو زنګون او به و لاړی وی .

فیل چه ژوندی وی یو لك چه مړشی دوه لکه . (۱)

---

(۱) د فیل غاښونه ډیر زیات قیمت لری نو ځکه یې پس له مرګه قیمت زیات تیږی .

# ق

قابلیت د لمر سترګه ده .

قاضي ملامتولم، زه نه ملامتېدم .

قام له قامه نه بېلېږي .

قدیمي یار، زین کړی اس دی .

قربان له خپله کوره، چه خبري شي په زوره .

قصابان چه ډېر شي، غوا مړ دار ېږي

قصاب قصابي کوله، یتیم شپه ورته اېره کړه .

قلم ئې چه جاري شي، مور پلار بې راضي شي .

قنداو کورت، په یوه نرخ ددی .

قول ئې چه خطاوی، په قرآن به ئې څه ویساوی .

قیاس انا کاوه، چه ملا ئې غوټه ماته شوه .

قیاس بابا کاوه، مر کنډی ئې ماته شوه .

# ك

کار اسان دی . پیل یې گران دی .

کادا ره حوسیان خلاسوی . کندوان کو چینیان .

کار نه ده ستة پسته ، خوراك نه ده تندرسته .

کار دبابا . خوراك دلالا .

کار زده کړی شه دی ، دښمن وژلی

کار کوه خدای یاد وه .

کار که ویل زما سپین ککیه زویه زیز گی ویل زما پستکیه زویه .

کار که مرداره خوری مښو که څنلوی .

کار که غوندې هوښیار دی .

کار که د زرکي تنك زده کاوه ، خپل یې هېر شو .

کار که په پسر لی څه خبر دی .

کار که نه کنلور هم باغ دی .

کار که له اصله تور دی ، سپین به نه شی .

کاروان په باج نه ورکېږی .

کاروان تېر پرې ، سپی غپېږی .

کاروان بندېږي، دخلکوخولې نه تړل کېږي ·

کارونه ازلي دي، نه په زور نه په زارۍ دي ·

کار مې د بل خوښ، خوراك مې دخپل

کار مې له لاسه واخله، کب مې له خولې

کارگر کور مړوي، لټ مور ژړوي

کاږه بارونه خداې سموي ·

کاسه په کاسه ده، کرده په کرده ده

کاسه چه په کاسه شي، دخداې وجه به څه شي ·

کال به داوي، شپې به نورې ·

کال دکاختۍ دي، شامت دبوډۍ دي ·

کال دې په لکړه تېر کړ، که په ککړه · (۱)

کالي چه اوبويوړه، خوباړې ماورپسې خوشې کړ ·

کام پسې، ناکام دی ·

کام کام ته ځي، اوبه خپل مقام ته ځي ·

کام کام لره ځي، وریجې لغمان لره ځي ·

(۱) له لکړې نه مطلب گدايي او له ککړې نه ځتي او مزدوري ده ·

کامه یې لوټ کړه ، بېرا کان اوس خبر یږی . (۱)

کانۍ به پوست نه شی ، دښمن به دوست نه شی .

کانۍ دیتیم په سر لویږی .

کبر ... کاوه ، خوارئې پښتون کړ

کبر جن دخدای دښمن دی .

کټا بو نه دریا بو نه دی .

کټ دې ستړی کړ ، چه پاتی منا (۲) شوه

کټوه چه په سر رانه شی ، نه تویږی .

کټوری که مات نه شو ، ازانګه یې ولاړه

کټوې کولال جوړوی ، نیت ئې مریی بدوی .

کنچڼۍ ته یې ویل چه یار دې مړ شو دی ویل دکومی کوڅې .

کراسته داسی ځای خرڅوه چه پرې کښېنې .

کر بوټی ، سره بولی

کرمیه غم نه ؤ غم دې راووړ .

کری اوربشې ، غواړې غنم .

کړې وړې چاره ، پواس غواړی درې ناله .

(۱) دامتل په ننګرهار کښې ویل کیږی .

(۲) په وږه کښی اوچت څیرته وایی .

کږدۍ په خپلو مراندو ولاړه ده .

کږې چارې په خدای سمېږی .

کشتۍ په نیت چلېږی .

کلا تړلې ، بلا تړلی .

کلدار روپۍ ، په زرګرانو چلېږی

کله دریاب ، کله کریاب .

کله وارد ابا ، کله وارد ادې .

کلي دې ودان وی ، لېوان دې پرې روان وی .

کلي په مشر ، ممبر په ملا ښه ښکاری

کلي کور به اوروا خیست . پښغلو ناوو به غږ نه کړ

کمال زده که ، په تاخچه کښې ئې کښېږده .

کم اصل چه بسیا شی . عقل ئې خطا شی .

کم بخت سړی به دپردی خیرات سرخان وی .

کمبختې ښځې په کال کښې دوه واره لنګېږی .

کمیس مې روغ کړ په بخیه ، خیال مې خپل کوټ پردی .

کنز (۱) خوهر څه وایې ، که یې څوک ومنی .

کوتك وهه دورور دپاره ، خبرې کوه دخدای دپاره

کوترې دی ، یوله بل بهترې دی .

---

(۱) د فقې یو کتاب دی.

کوټ کوټ دلته لرې ، هلته هلته اچوې ·

کوزه وسوه · دېوالونه يې پاخه شول ·

کورت اوغوړی وای ، ناست ورته مړنی وای ·

کورت دې وی غوړی دې وی ، په منت اوبه سوړې دې وې

کورد هغو ګران وی ، چه ګټلی یې په ایمان وی ·

کور د ماما دی ، لاس منډه ګوډې راباسه

کورکښې دې جواری نشته · له دماغه دې د پلو بوی ځی

کور دې لرې · کوڅه دې نژدې ·

کور چه سره کور شي د کلي مخې شي ، کلي چه سره کلي

شي دولس مخې شي ·

کورمې درجار کړی · تروره د باندې

کورمې دې تالاشی · بول مې دې بالا شی

کور ودان ، دورو رودان ·

کوزده له کوره وکړه · واده له پوره وکړه

کوږ بارتر مزله له رسېږي ·

کوږ لرګی په بار کښې نه ترل کېږی

کولاله ، وکړه خپله سیاله ·

کونډه هم ژاړی، رنډه هم ژاړی بر نه راوړی په ناوړین ژاړی
و نډه دلپوره په تمه ، دمېړه ووته .

کونډه چه سترګې توري کړی، مېړه به وکړی .

کونډه دمېړه په تمه شوه، له وړوټو لولووته .

کوڼ دوه واره خاندی .

کوم شی چه نه پایی، زړه تړل پرې نه ښایی

که اغا مړی که بی بی، زمادې وی پخه ډوډۍ

که باران وی که ږلۍ، میلمه غواړی ښه مړه

که باغ خراب وې، الو پکښې بوده .

که باخوړ نه خورې، بدپرې مه وایه .

که بې خښتنه ډېر یدای، دغر دغر څه به ډېر وای .

که پورته ګورم باڼ دی، که ښکته ګورم پړانګ دی

که پړ تاواوری، پړما به وڅاڅی

که په خپل وطن کښې خان یې پر بل وطن اریان یې .

که په ژړا ژوندی کیدای، مړی به ژوندی شوی وای

که په سبا ناری دې ښادشوم، غرمې ته به دې هم پاتې شم .

که پیل په پیسه شی حه پیه نه وی څه یې کوم .

که پیو ته دې زړه کیږی، غوا دا خله.

که تا ویل ته یې، ما ویل ته یې، هم به زه یم هم به ته یې.

که تل لوونه وی خوانان به نه وی، که تل غوبلونه وی غوایان به نه وی

که توره دې لنډه ده، قدم ورواخله.

که ته کړې سمې چارې، تا به خوک باسی دلارې.

که ته غرئې، زه غونډۍ، که ته ماریې زه لنډۍ.

که ته مرې، هم ماخو به وړې.

که ته کټوی یې، زه دې برغولی.

که ته نازوشې، نو میرخان به خوک زیږوی. (۱)

که ته ټک ئې، زه ټک مار.

که ټوله دنیا او به ونیسی، دا یلی تر پړکی پورې وی.

که جنګ نه کوې، لکی خو دینګه ونیسه.

که خوک نه شرمیږی، خوک به یې وشرموی.

که څه وایی، څه به واوری.

که ځان په عذابوې، له بې عقل سره اشنایی کوه.

(۱) اشاره و حاجی میرویس نیکه ته شوی وه.

که ځان دژني زړه که خوره، که زړه که وژني اوبـه پسې چښه (۱)

که ځغلې ل جنجاله، نو تاك مه بده بې دیواله .

که خاني غواړې، دېر ته لاړ شه (۲)

که خاورې اخلې، نو له لوی ډیران یې اخله

که خر خوړی مې زاړه دی، هډوکي مې درانه دي .

که خره یې نه وړی، په کوټې یې بار کړه

که دا غوا مړه شي هم به تاوړه شي .

که د بېډ یا کاڼي پاسته وای، ګیدړانو به وهم نه وای پرې ایښې

که دنیا ډېره شي، اخر به تېره شي .

که د سر کار د کوره تېل در کړه شي، لمن ورته نیسه .

که دې په ښه یادول، به ښو به یاد شي .

که د فصل خوار یم، د اصل خوار نه یم .

که دیګك د سرو شي، بېخ ئې د مسو دی .

که د سهار ورك ماښام کور ته راشي، ورك نه دی .

که دښمن ګیدړ وی، تا یه ورته د زمري نیسه .

که د ومره بادروای، نوم به دی فتح خان و .

(۱) معمول دی چه او به د زړه کی نفخ لری کوي .

(۲) د یر به پښتونستان کښې یو ریاست دی

که دښمن دې هر څو مره خوار شي، قوي يې بوله .

که د کاله رڼګ بدېږي، د مېلمه هم بدېږي

که روزي په عقل واى، بې عقل به له لوږې مړو .

که زه نه وايم، دا ګوډه پښه مې وايي .

که زور په بازو نه لرې، زر په ترازو نه لرې

که ساړه دی، په ټول ښاره دی .

که زمري وږی پاتې شي، د ګيدړې پاتې شوني نه خوري .

که سر غواړې، سر مه پاشه .

که سړی ور ګاړوی، د کوچني خوشحالول ګران نه دی .

که سل کاله ژوندی ئې، عاقبت د ګور بنده ئې .

که سيند لوی دی، خو د سپي ورته ژبه ور وړل دی .

که غاپي نه، ځک خواوسه .

که غر لوی دی، په سر ئې زه لاره ده

که غوا راغله په پی، که نه راغله پر دې .

که کښېنستې خو له ټټه، په لاس به را نه وړې هيڅ ګټه .

که کښته تو کړم بېره ده، که پورته تو کړم بر پټ دی .

که ګټوه خو ټپري، خپلې شونډې سوځي .

که لاړ شې تر بلخه، د ر سره ده خپله برخه .

که لعل هر څومره خراب شي، له جسو ښه دی.

که ما چاړه درلوداى، سر به مې ولې داسې ښرواى.

که ما و پوښتې، ته به و تښتې.

که مړی خبرې کولې. نو ولې به مړو.

که مېلمه يې، شوټ خونه يې.

که مځکه ټوله اوربشې شي، د خره پکښې لپه ده.

که مشر مشرتوب غواړی، کشر هم ددنيا ودغواړی.

که مرګ غواړی، کندوز ته لاړ شه (۱)

که نه پوهېږې. ځوان مال اخله.

که نه مرې، اخر به و مرې.

که نړۍ ودانه ده، په مړی قيامت دی.

که والوزې مرغه شي، د نصيبه به تېر نه شي.

که ورور شوی ډرور شوی، که نه ورځه د خوارۍ اور شه

که ورور دی، په مخه دې ګوړ دی.

که وږی يم، سبې لا نه خورم.

که ورځ د زورور ده، شپه د کمزوری ده.

که هر څو هوښيار يې، نادان پوښته.

که هرې ښځې مېرخان زېږولای، نو مېرخان به ولې يادېدای.

که هين کړې که پين کړې، دا پټۍ به شين کړې.

که يار نادان وی، نو کار ګران وی.

(۱) دا متل د هغه زمان دی چه کندوز له شاه محمکو او محمد ګلو نو څخه ډک وو. اوس کندوز ښه ودان دی او د مرګ په ځای پکښې ژوند راغلی دی.

# «ګ»

ګامېښه د ګل په بوی څه پوهېږي .

ګټه بې ستړ یا نه کېږي .

ګټه په تاوان کېږي .

ګټه په سر سینه کېږي .

ګټې تر ګټو لاندې دي .

ګټې دار واوو دي .

ګټې دې لالا کوي مړې دې عبدالله وهي

ګړګه بل علاج دې نشته . بې له مړګه

ګړګه چه زړ یږي ، اور پرې لګېږي .

ګړ انګ یې څخیده ، چه خدای وکړه ستا ئې څه .

ګلاب په پوټي کښې ښه ښکار یږي .

ګل د کدو ګل کوره ، یو پور ته کوه تری لاندې بل ګوره .

ګل له ګل سره ښه ښکار یږي .

ګل چه دماغي وې ، هم ښه دي

ګیلګیې دموږي ، په زور غورځي .

ګنجي که ډاکټر واي، دخپل سر علاج به ئې کړی وو.

ګوړ که ګران دی، خو د سړي ناکام دی.

ګوره چه اوښ پر کوم اړخ څملي.

ګومل که وچ دی، رودې ئې بهیږي

ګیدړه چه څه پیدا نه کړي، ښکو (۱) لي پټوي.

ګیدړه د اوښ په سیوري تله ویل ئې دا زما دی.

ګیدړې ته خپل پوست بلا دی.

ګیدړه تر هغې دې ښادي ده چه خو نمر نه دی ختلی

ګیدړې سترګې پټې کړې، سپي و نیوله.

ګیلا نه څه بلا شوې، چه د لوې وکم د خندا شوې.

ګیله له خپله کیږي.

ګیله له یاره ده، نه له ماره

(۱) ښکولي یوه قوقه وچ پوست ته ویل کیږي.

# ل

لار په مزله لنډېږي.

لار مېندلې، ماميه پرې تللې.

لاره هه، دخدای لار ګوره
لاس چه مات شي، غاړې ته ځي (لو يږي).
لاس مې تور، مخ مې په تور.
لاس چه نر سخر لاندې شي په ورويي را کاږه (۱)
لاس د برې کار دی.

لاس لاس پېژني
لاس مې تورې پېشو خټلی دی (۲)
لال په ايرو کښې نه پټېږي.
لالپوره، په مېړو پوره
لامبو په ږيره نه ده.
(۳) لانده کړې، در ښښلی. وچ مې لانده نه کړی
لټ د دوبي سيوری غوړای، دژمي پېتاوي.
لټ يې د کور په وره کښې غواړ که نه وي نو بيا ژاړي.

---

(۱) سخر لوی تيږي ته وايي
(۲) دا متل داهم ويل کيږي «لاس مې تورسپي ختلی دی
(۳) د دې متل معنی داده: چه ضرر را رسيدلی هغه به وزغمم نور
را پېښ نه کړی

لټه ښځه، و لور نه اړي.

لرګی تراشه، (توبه) سړی ځني جوړوه

لرې شي بې شي، په باغوان برابرې شي.

لرې له سترګو، لرې له زړه

لري مې واده کي، چه دابه نه کنځي ولې شا کاسې و بولم.

لري مه ځه، نژدې ونګـوره.

لرې مه ځه چه، لېوه دې و نه خوري

لړم ته ئې ويل کوچ، ده لکه پرشاواړ وله .

لږ خوره. هوسا به اوسې.

لږ خوره تل، خوره ډېرخوره زهر ګڼل لږ خوره.

لږ خوره، نوکر و نيسه

لږ خوراک، ډېر عبادت

لږ خوراک، دځان کومک

لږ خوره، ډېر ګټه

لږ ورکه، ډېر وګټه

لږ ويل، ډېر کار

لږ غږېږه، ډېر کوه.

لږ ګټه . تل ګټه .

لږ مې درکړه، نوحو ند ئې درکړه .

لغته د هغې غواړه چه شیدې یې خورې .

لکه ابا، هغسې یې قبا .

لکه ادې، هغسې ئې پایڅې .

لکه اوښ لرې ګوره .

لکه ږړ، هغسې ؤراشه .

لکه پزه، هغسې نته .

لکه تنده لښته پر هره خوا ئې کړوی

لکه جولا، خپلو پښو ته ګوری .

لکه چرګ اذانو نه ډېر کوی، لمونځ یې هېڅ نه دی لیدلی

لکه چرګ په ناوه زوړ شوی .

لکه ځان، هغسې جهان .

لکه ځنګل، هغسې چغال .

لکه د آسمان کټ د چه شپې پیداشي، دور ځی ورک شي .

لکه د تبې ډوډۍ، نه مخ لری نه شا

لکه زړه ، هغسې ئی سور .

لکه ژرنده ، هغسې ئې دوړه

لکه شیخ چلي، په ښاخ ناست ښاخ وهي (ریبي).

لکه غر هغسې ځناور.

لکه غر هغسې کربوړی.

لکه غوېي چه مړېي واخیست، یا به ئې وال ړنګوي یا به جغ ماتوي.

لکه کوټکی، دمور د مخه زغلي. (۱)

لکه لنده کراسته، کشېږي پرې کېږي نه.

لکه لېوني خپل ځان ته خاندي.

لکه لېوني له کوره، بهسارا خوش دي

لکه مخ، هغسې څپېړه.

لکه مینده، هغسې ئې لوڼې.

لکه مړک په کورتو بسي مه زغله.

لکه ورغومي، هومره ئې کومې

لکه لوړ، هغسې ځوړ.

لکه بخت، هغسې ئې تخت

لکي ښه دي که پټي؟ ویل پټي ښه دي.

لمر په دوو ګوتو نه پټېږي.

---

(۱) ګوټکی دغرې کوټۍ ته وايي.

لمر خیژه وهی ، خر کار پټیږه .

لنډ کمونه ، اوږده یې پېغورونه .

لنډه لښته ، هری خوا ته کږیږی .

لنډی دماړسره غزیده بر منځ دوه ځایه شوله .

لنډې داوږدسره برابراوه ، دېڅه دوت

لوټه په او بو کښې ږدی ، اوبه پړی

لوخ له او بو ، نه بېر بږی .

لوخ په خوب کرباس وینی

لوخې دکام ښه نه غوښته ، سر یې په دریاب کښې وچ شو

لور پر لوټه تېره کوی .

لورچه ښه شی ، دمور کو ښې یې په پښه شی .

(۱) لور دموره بېلوی ، تنګه بلاده .

لورچه دمور دغېږی کاږی ، نوم ئې تنګه ده .

لوردلویه کوره غواړه ، کوچنی ته ئې ورکوه .

لورپرېږده ، کور ئې کښېږده .

لور زېږول ښه دی ، نه خوشی کښېناستل ؛

لورې تاته وایم ، مږورې غوږ پری ونیسه .

لوروهه دوروردپاره ، ویل کوه د خدای دپاره .

( ) پړو لور ابراد نیول غرض دی .

لویه ګوله ښه ده، چه د نس پکښې ښه ده.

لویه ګوله ثواب لري، چه د نس هم پکښې خیر دی.

لوی مې کړی، لوئې رامه کړی.

لوېی یو خدای لره ښایی

لوېی پر کور ډایی کوچنی یی پر صحرا.

لوی د خدای په هیله، وړوکی د لوی په هیله.

له اخرت نه څوک راغلی دی.

له بازاره زه راغلم له نرخه ته خبر یې

له بازاره ووځه، له نرخه مه وځه

له بدو څخه یاغلی اوسه، یا لرې اوسه

له بدو سره چه اوسې، که بد نه کړې بد به یوسې.

له بله به خپل ته وژاړی، له خپله به چا ته وژاړی

له بې باکۍ مې څه باک شی، چه پر دی کور یې اتاک شی

له بې کارۍ نه بېګاري ښه ده.

له پلالی لاندې، اوبه مه تیروه.

له پلار نه یې، زوی غټ دی.

له پردې سړی ، کيله نشته .

له پردې روږه خپله لوږه ښه ده

له پليتې ښځې ، له نږيدلې ديواله ، له ليونی سپی

څخه ځان ژغوره .

له تربوره مې زړه کړم دی

له تش ټوپکه دوه کسه ډار يږی

له تناره ئې ، موری له لو يه ده .

له جاهل سره چه دوائی ، لکه ميخ چه په تېږه ښيايی .

له خزانی سره مار وی .

له خولې دې وځه ، په ګريوان دې ننوځه .

له خيره دې بيزاره سپی دې درکوری کړه .

ل ، خيره مې دې توبه ، سپی دې درګرزوه .

له خوراک نه يې تمه ښه ده .

له خوند نه يې شخوند ښه دی .

له څاڅکو نه سيند جوړيږی .

له سختی مرګ نشته .

له غم نه يې خلاصيږم نه ، له ښادی څخه يې خبريږم نه

له کلي ووځه له نرخه مه وځه

له کند وڅخه يې ، موږي له يه ده ·

له کوره په سارا خوش دی له وېشه په تالا ،

له کوره به درسره يم ، نه تر ګوره

له کوم ميلمه نه چه نه خلاصېږې هغه ته ډېر ډېر خانده

له کوره يو ليوني نه چه ټول

له کوره يو ليوني بس دی ·

له کونډې سره چه هر څو مره ښه کوې ، دا ئې خو اوسني
مېړه ياد وي ·

له ماره مار بچي زېږي ، له کوسې ټکه ·

له ماپاتې وتاته ، له تاپاتې وماته

له ما پيدا شو ، راته بلا شو

له مرګه دې قربان شم ، کباړه دې په ما جوړه ده

له موره يې نمسي غټه ده

له موره که يو يم ، له کامه خو يو نه يم

له ليوني سپي څخه ، هر څوک وېرېږي ·

له ناکامه خلك هندو ته ماما وايي

له نړېدلي ديواله ويره په کار ده

له نشته نيغي هم ښې دي

له نيا نه ئې لمسى غټ دى

له ورځې نېړې اوبه، نېړه نه راګرځي.

له ورګاري څخه، د ګرتو چيچل ښه دی.

له وږی نه ږوږی غواړی

له ويش نه يې په تالا خوښ دی.

له هغې بلا نه چې خلاصې نه وې، دوه ګرته په مخه ورځه.

ليلى ته د مجنون په سترګه ګوره،

لمى د مخه، لمى په پسې

ليمخې هلته خرڅوه چې پرې ګڼېږي.

ليونى په ژمي کښې پالوده غواړی

ليونی په څه خبر دی

ليونی ته مه څه ورکړه، مه څه ځنې غواړه

لېونو سره چا کلی ګور نه دی کړی.

لېوه په وازه خوله وهنه کوي، ملک يې په پټه خوله.

لېوه ته يې نصيحت وکړ، په هغه ورځ ئې شل وداړل.

لېوه ته يې نصيحت کاوه، ويل غيلمى لرې و لاړې.

# م

ما پر اسمان غوښتي، خداى پرځمکه راکړي .

ما پور غوښته، تا نور غوښته .

ما ته أي که . چغکه يې مه بوله

ما چه ته لالا بللې، ماويل ته به تا تمکى په سکو ته راوکا بړي

ما دپرش روژې، داختر دپاره نيولي

مار چه لنډه شي، دوسره خولې اچه ي .

مار چه غار له ورشي، نو سمبږي .

مار چه دې وخورې مار دى . شرمښکى دناسورداغ دى .

مار دشينشو بى بد راتله، شينشو بى دغار په خوله کښې ور ته شين شو

مار که اوږده دى، سمساره پرې سوروره ده .

مار اوړى، مار خوړلى .

مار چيچلى، له پړى ويريږى

مار دې لنډ کړ مړ دې نه کړ .

مار خو نه يې، چه خاورې به خورې .

ماړ ته کتى نه شم، وږى ته يې ور کوى نه شم .

ما کور، مړ کې راخپور کړ .

ما که وژغو نې په کار در لو دای، داد ې کتو ې ړ کې وی .

ملکی په مشر و کشر پو رې اړه نه لری .

مالا جوړ ولې، لالا غز ولې .

مال په دهقان سپاره، دهقان په خدای

مال په مال پسې ځي .

مال چې خاوند ته نه وی، حرام دی

مال یو ځای ، ایمان سل ځایه .

ما نا نکه خواړه، بچی مې بلاوخواړه .

ما ما ځان ګر وی د خو ر یې تمه کیږی .

ما مو ته ، بیاد ې مو ته .

ماویل چه ز ما نشته، ددې خیالې خو لا نشته

ماهی و یل ما به خبرې کړې وای، مګر خو له مې د او بو ډ که ده .

ماهی چه نه نیسې ، نو یې تر لکې نیسه .

ما و لیږلې کلا ته، ته لاړې مشغو لا ته

مچ نور څه نه کوی، خپله خوابدوی .

مچی په لوی لاس مه بونوه

مځکه هغه سوځی چه اور پرې بلیږی .

مځکه مور ده ، زر زیږوی .

مخامخ روی ته څوک نه وایی چه‌روی .

مخ کښی ځه ، خواېږ ته هم ګوره .

مردار زړوکی اور نه اخلی

مرګ او خوب ، یو شی دی

مرګ په ماڼه نس بنه دی .

مرګ په ډول او سورنی نه راځی

مرګ ته ځوان او زوړ یو شی دی .

مرګ حق دی . ګور او کفن په شاک کښی دی .

مرګ حق ، مرات حلال

مرګ د ټوپک بنه دی ، نه د تلتک .

مرګ د مرض زوی دی .

مرګی دا ی بو وار دی ، نن پرما سبا په تا دی .

مرګی نژدې اند پښندی لری .

مرغان هغه سره کښینی ، چه یوی سره ورته وی

مرغه چه په بوټی ننوزی ، ځای ور کوی .

مړو نوي برخې لري .

مړي په مستو، مست وي.

مړي ته بې ويل مړ يه، ده و ژړل، ساوو ته يې ويل

مړيه ده وخندل.

مړي ته يې ويل چه راڅې نيسم، ويل ستا اختيار دی. ويل

تښتې خو به نه ويل زما اختيار دی.

مړي غوندې يې ګټه، ساوو غوندې ئې خټه .

مړانه د مېړو وجو هر دی .

مړونه ئې په خولو ګټې، اسونه ئې په سوو ګټې

مړونه مړي، نومونه يې پاتېږي

مړي به ډېر څه وايي، که يې څوك ومني.

مړي په ژړا نه ژوندي کيږي .

مړي ؤ. ويرېي نه ؤ

مړا اور پو کوي

مړي ايرې، مه شينده .

مړی خوك په لغته نه وهی .

مړی ته‌شپه اوورغ یوه ده .

مړه ناري وهی . چه مونږ مړه یو ، یا دسوو یو ، یا دسړو میږو له مړانی مونږ لیږ ده .

مزدور چه له کال نه تېرشی ، دکاله واکدار شی .

مزدور چه نور کار نه لری ، ور به پورې کوی .

مزه یې ښه ده ، راتله یې .

مزې تاد کړی ځیدړې ، همېشه دېشونډې غوړې .

مږ کانو ځپنکړی جوړ کړ و یل یې دپښی په غاړه کښی به یې خوك اچوی .

مږك په غار نه شو ننو تلای چج یې په لکۍ پورې غوټه کړ

مږك چه کور په ژرنده کښې لری ، څه غم لری .

مږ که خاورې کینه ، خاورې دې په کوره .

مسافر له خیره پوښته ، له شپو یې مه پوښته .

مسافری ، اوم سړی پخوی .

مستې دغلمینی ، با نه بنګك دی

مسجد دخوب ځای نه دی .

مسجد که ونړېږی ، محراب یې پرځای وی .

مشر مشره برخه لري ، کشر کشره
مشر د مشر ځای لري ، کشر د کشر
مشر د کشر پل دی
مغزی زمر یان ما توی، غونبې ګید ړان خوري
ملا ځنګله ته نه ځي میلو هوارې ته نه راځي.
ملا هم پاک ، مسواک يې هم پاک
ملا بانګک اوچرګ بانګک فرق لري
ملالو ر نه خرخوي ، هسې يې سرلو ړ دی
ملا ملا تلبېر دی ، یو ملګری می بر دی
ملامی کړی، دخپل ځان بلا مې کړی
من خورم ، سپر ګنتم . بی بی او سم که دزځم .
منلې به لالا دهی ، مړه به عبداللهوهی
منکر نر دی ، قایل خر دی.
منګی هره ورځ نه ما تیږی.
منګی کله کله ماتیږی.
مه چې د نور د شپلی ګنډی، مګر خپلی ای څیر ې پیر ی وی.
مورچه يې منګی وی، لوريې اشو کی وی.
مورو پلار چه زاړه شی، له شکرو لا خواږه شی.

مور و پلار يې پر قاضي . هلكان پر بازي

مور نه ده ميره ده، رانه كښلي يې چاړه ده

مور ئې په كلي شلومبې غواړي، لور ئې په نيم من كوچو

سر نه غوړوي .

موږی په بد راضي .

مور ئې پيدا نه وه ، لور يې پر بام ګرزېده .

مور نه ميره كېږي .

مور يې چه درخانۍ وي، لور به يې ښاپېرۍ وي

موږ بزګردې پر كور ميلمه مه شه .

موږ شوم په زړ دكو ، بيا به نه ځم زړانو ته

موږ دوړي د حاله خبر دي .

موږ توږ د يوه لاس ګوتې يو .

موزی لايق دی د شړی . كز بره مه پرې اغوندی

مه چاته څه وركوه، مه د چاه زړه بدوه

مه خوره هغه كراړه، چه پرې نيسي دي ترغاړه .

مه خوشال وای ، مه خټك وای، مسلي وای خو ځواني وای

مه‌داسی خوږشه‌چه ښوك دې وخوري، مه‌داسي ترېخ شه‌چه

ښوك دې وغورځوي .

مه‌د چادار اپا ته كړی، مه‌مې چاته‌پاتې كړی.

مه‌غو ندی تشوه، مه‌وږی ژړوه .

مه‌كرل كړه مه‌ر يبل كړه، توری ښنې اړول كړه .

مه‌كړه‌هغه چار، چه‌نه‌دی مور كړی‌وی نه‌پلار .

مه‌كړه دروېشه ، پر تا به‌ در شي پس‌وپېشه .

مه‌وايه‌پر ما، چه‌در به‌شي پر تا .

مه‌كوه‌په‌چا چه وبه‌شي په‌تا .

مياشت د لومړی ورځې معلومېږی .

مياخيل كه‌ښه‌ځوانان‌وای، خپلې مېږې به‌يې‌مېږی كړی‌وای

ميراث د ی هغه‌ته پاته‌شه‌چه همېي‌خوری هم‌ېری‌ژاړی .

ميراث‌خور ښه‌دی، كه‌اموخته خور .

مېره مې نه‌ليدة، تر مور مينه

مېږو ته‌كوره، برخې‌وېشه .

مېږو له خندا مو ندلې ده .

مېږو نه كه‌خه‌نه‌دی، له‌خدايه‌لری نه‌دی .

مېړه څه وهلی څه پوري وهلی

مېړه ته مه وایه چه مېړه ګیه .

مېړه یا نېکنام، یا بدنام .

مېړه مړ که، مېړانه ئې مه ور کوه .

مېړه چا په خواری نه دی کړلي

مېړه مرداره، پور پر غاړه .

مېړه که ړنګره شي، هم دوری ور ته هیله ده .

مېړه دی په لېوه و سپارله .

مېړی ته چه خدای په قهر شي، نو و زرو نه و کړی .

مېړی تر ځان لوی باروړی .

مېړی پړانګان ماتوی، غوښې ګیدړان خوری .

مېښه په خوب کښي تاپوګان وینی .

مېلمه په ننګ ښه ابسی، کور به په ست

مېلمه به دی شم، مګر نه په مې باروی، نه به مې بندی کوی .

مېلمه خپل نصیب خوری .

مېلمه شړلی ښه دی، نه په ګیلو نهار .

مېن یم، مګر ځان سیند ته نه اچوم .

مېنځه چه تو ده شي، هلته یېده شي .

# ن

نابلده غل، کادانه وهي.

نابلده غل، په بوساړه ننوځي.

ناپوه ئې د ومره په بل نه کوي، لکه په ځان

ناپوه ئې په سلو کلو ګټي، په يوه ورځ يې بايلي.

ناتار چه خپل خښتن راو نه ګرزوي، نور يې نه را ګرزوي.

ناخبره د مرګي لېوه دی.

نادار پور وړي، چا نه دي وژلي.

ناراسته سړی، په وچه ځمکه ښويږي.

نادیده تلتک نه درلود چه پیدا ئې کړ تر غرمې پکښې پړوت ؤ.

ناسته ښځه کار کوي، ولاړه ښځه څار کوي.

ناوې هی‌هی لري، خو په زړه کښې ګوړې ماتوي.

ناوې تللې په خړي ورائې پښلوه په نغري.

ناوې په پسول ښه ایسي، پاچا په خول.

نجل به هلته نجل شي، چه په ښځو په اوربل شي

نرپسه د حلالولو د پاره دی.

نرخ ته ګوره، ګولې وهه.

نرزوی پەروەی كنبی معلوم‌ئیری·

نر دێ مره ، نردێ زێره·

نرمه غاڕه ، تورەهم نەغوخوی ·

نشتەداسی لوری، چە وتێبتی كمزوری·

نصیب كته كڕی خردی·

نصیب لەما هم٘كڕندیدی·

نعمت پس لەزواله معلومئیری·

نغری لەدبمنه ڕلكبنەدی، نەلەدوستەخالی·

نغری دكهول ،مشردی·

نكریعٚی چەتراختر تێری شی، نویێ‌پڕداپوالەوتپە·

نن دێ خاطر،سبادێ دملا تێر·

نن پڕما، سبا پڕتا·

ننه واتێ پڕخه وی، كه بێ خه·

ننكدكور پەمێڕو كێری·

ننك له مێڕولاڕ ،شرمله ارتینو·

ننك لە٘كور ستانه پاخیدلیدی·

ننكرهار نیم نهار·

نورجوڕ ، كارته ناجوڕ·

نور يو منزل کوي، سپي دوه منزله کوي.

نور يې تر مړه پدوخوري، خېټو يې تر ليدوخوري

نوك او اوږي نه سره بېلېږي .

نوم يې لوړ کور يې ړنګ

نوم بد، ګړ پوان خېرې .

نوم د نامه نه پرې کېږي .

نوم ئې خان ، کور يې ړان .

نو نس شل کېږي نه، او بېړه اخسې نه .

نه اوري ، نه ګوري، سر پټ بد ايې بولي .

نه به کاڼي پوست شي ، نه به غليم دوست شي .

نه به تل د اسره او بنان وي ، نه به تل د ناصرخان وي .

نه پوهېږم چه ور تنګ شو يا خر غټ شو .

نه تاخه راته کښېښوه، نه ماخه پکښې پرېښوه .

نه جغ کوم نه سپاره، خداى بې را کې پر تياره .

نه چاليدلى ، نه بادوهلى .

نه خان دى نه مان دى ، زما د اوړو زيان دى .

نه خر وهلى ، نه لښته ماته .

نه خر مړ کېږده، نه سپي څښتن ته.

نه خوږلی نه چښلی، پښتو رکی درد نیولی.

نه د بې مالکي خوږو مزه شته، نه د پردی زویه کیله شته.

نه د چا کور، نه د چا کلی.

نه د ښه حاله الوت شه، نه د بد حاله مرګ.

نه د ټینګې دوستۍ دی، نه د دستی د نیوو.

نه د لې شوم، نه هوري، ترمنځ شوم خاوري ایري.

نه د مړو دژړا دی، نه دژوند وددلا سا.

نه دې پاتي خورم، نه دې سرې چلوم.

نه دې نیولې پیایم، نه دې کاړي ښتم.

نه دې زی هغه غوړی، چه وبې نه خوری سړی.

نه دې کورت خورم نه غوړی، نه دې سوک خورم نه سوټی.

نه زما پلار ستا تر بوردی، نه زما پلار ستا مزدوردی.

نه سیخ سیځی. نه کباب.

نه شرم نه حیا، لعنت پر بې حیا.

نه . . . کوی، نه دلار وزی.

نه کرم، نه ریم، توري ښتي الوم.

نه کم نه کمتر، سلامت د غوایی سر.

نه کور ورک، نه دود ورک.

نه ګنلم چوڼی، بېزاره یم د ګڼې.

نه له پېره حیا لری، نه له مېره .

نه ملا شوې نه امی شوې، د پلار مېنه دې ورکه کړه
چرسی شوې.

نه مې وخوړه نه پرې موړ شوم. سلا بلا په تور شوم.

نه یې تر خولې شوه، نه یې تر نسه .

نه یې خورې، نه ئې خور ندی ته ور کوې .

نیت سم نیسه، اول یې پر دښمن نیسه .

نیت مې و تاړه په پړی، ما نو، ګیت د هل په کلی.

نېستی د مېړو قدر کموی،

نېک بخت ئې په بل وینی، کم بخت ئې په ځان.

نېک عمل به دې سلطان کی، بدعمل به دی په ځان پورې
حیران کی.

نېک عمل به دې پاچا کی، بدعمل به دی رسوا کی.

نېکی د دښمن سره کوه، چه تور لېمه ئې ووځی.

نیمه ډوډی، د کوڼی پای.

# و

واده اسانه دی ، ټک ټوک ئې ګران دی ·

واده په ساز ښه ښکاری ، مړی په ویر ·

واده ته مه وایه ، واده ګیه ·

واده د نه ستنې ، کرياب دی ·

واده د الله داد ، پکښې غورځی مولاداد ·

واده دی د پردی ، پکښې غورځی لېونی ·

واړه تشې شلومبې شاربې ، خبر نه شوه له مطلبه ·

وانښکی پر زری ځای شلېږی -

وانښه د سمې خورې ، هو اد غره لرې ·

واک ستادی اکاخېلې ، اوس که غوا بیایې که غېلی ·

وباسه پیسې ، وخوره پتاسې ·

وبه ـې پوښتم ، واکدار به دی نه کړم ·

وتلی ښه دی ، که تر پلی ·

وجنګک ته یوه لوېشت دمخه کېدل ، د سلو کلو لار ده ·

وچ اوړه پردېوال نه نښلی ·

وخت چه د بری شی ، هر ګیدړ زمری شی ·

وخت چه د ختمې شی ، دیتم پزه و ینې شی ·

وخت سره زردی ۰

وخوره ګل بخور ، چه دې وشی میراث خور ۰

ورانول اسان دی ، خوجوړول ډېر ګران دی ۰

ورځ ئې چه برابره شی ، چراغ یې په او بو کښې بلېږی ۰

ورغستلی ، له منځه وتلی دی ۰

ورکړه په لاس ، ګرزه په پښو ۰

ورکه کې نېستی ، سړی باسی له سیالی ۰

ورور چه هرڅومره بدشی ، دمیرې له زویه ښه دی ۰

ورور چه ننګیالی شی ، دخور پرسر ټیکری شی ۰

ورور چه سپور شی ، دخپل کور شی ۰

ورور دې وی ، پرلاهور دې وی ۰

ورور دې وی ، دمیرې دې وی ۰

ورونو جنګ وکړ ، سادګانو باور ۰

وروستیه عقله ، چه ړومبی وای ۰

وروری خوری به کوو ، حساب ترمنځه ۰

ورور یې مه وهه په توره ، خوریې ناسته ده حضوره ۰

ورور ئې کسه ، خور ئې نسه ۰

ورور یې ګوره ، خور یې غواړه ۰

ورور یې ورور ته نه ګټي ، شریك ته ګټي .

ورېښم که زاړه شي ، د خره کسته لا نه شي .

ورېنداري خواره به دې غواړم، نه دورور دمرګه

وړ ی نه ول لری نه ولې ، چه مېرمن نه وی ناولې .

وړوکی دښمن ، داور بڅرکی دی .

ووړ دښمن ، لوی وګڼه .

وړه چه په میندو شي ، هغه لالویه فتنه شي .

وزه نڼوزه ، دجنګی لالا واده دی .

وزه نڼوزه ، وړ سګ خوره اېمه دې وزه .

وزه دشپون دپاره نه ده ، شپون دوزې دپاره دی .

وزې وزې پې خوبه راکې ، خوله پچوړکې .

وژاړه چه وخاندې .

وږی په خوب ، دستر خان وینی .

وږی پیشو ، دزمری سره جنګېږی .

وږی ته باخه ټېپرښه دی ، نه سپین زر .

وږی ته چا ویل څلور څوکېږی ، ویل یې

ا ته ډوډی .

وږی ته دپانګک پوست سنګکی ډوډی ښکاری ؟

وږ ستر ګی خدای نه ړووی ۰

وږی دړوړی ڼپهار اوری ۰

وږی د ملغلرو همیانی پیداکړه ، د نینوګو مان اسي پرې وکړ ۰

وږ ی سترګې ، نه ړړ ېږی ۰

وږ ی نس ، بلاده ۰

وږی لره نیمه ګوله هم غنیمت دی ۰

وږی نه یم ، قدر غواړم ۰

وسله هغه ده ، چه په لاس درغله ۰

وسله که سل کاله بارده ، په سخته ورځ په کار ده ۰

وطن په دووسترګو خپل دی ، په دووپردی ۰

وعاقل ته اشارت دی ، کم عقل ته کوتك ۰

وګټه ، پیل وخوره ۰

وګوره سړی ، ترې لاندې واچوه کالی ۰

ولاړې اوبه ، ژرژړیږ ی ۰

ومی بله ، ومې تړه ۰

ومه خورې هغه غوړی ، چه وباسی مرغېړی ۰

ونه چه زړه شی ، دهرې بلا پرې شپه شی ۰

وهم‌دې چېړې، هب دې چېړې خپژی .

وپشلی ورور، تربوردی .

ویل دې‌بنه، کول دې بد .

ویل شته دی، عمل نشته .

ویل، لکی بنه‌دی، که پتی؟ ویل پتی .

ویلنی مې‌دو یالې ترغاړې بدایسی، په کور کښې راته شین‌شو .

ویی واهه په سر، ویی چاودې تلې .

## ه

هلې په پیوند، جلا کېږي.

هلوعمر ئې مه حسابوه، حال ته ئې گوره.

هر چا ته خپل وطن کشمیر دی.

هر چا ته خپل مزی مرغلین ښکاري.

هر چا ته خپل زوی شهزاده دی.

هر چېرې چه ښه، هلته دې شپه.

هر چېرې اور بل، کټوې باندې.

هر چېرې چه خورې، هلته به مرې.

هر څوك له ځانه خوښ، په نوره بیا بنگښ.

هر څوك پوهېږي، چه غوا توره شیدې ئې سپینې

هر څوك چه وزگار شي، یاغل شي یا بیمار شي.

هر څو چه هوښیار یې، نادان لا پوښته.

هر څه چه درته وایم، ته خپله عږ که شار بې.

هر څه مې د بل خوښ دي، عقل مې خپل خوښ دی.

هر سړی خپل غم ژاړي، نه چه د بل غم.

هر سړی تر خپلې مدعا پورې یار دی.

هر سور پر یږی، ملا شاه ګل نه وی.

هر شی چه غبرګ شی، لنډیږی، خبره چه غبرګه شی
اوږدیږی.

هر نوی قدر لری، بی له مرګه.

هر مرغه، خپله ئی ځاله، خبر نه دی یو د بل له حاله.

هر مرغه چه دانه اخلی ځنګو نه ئی زیږدی.

هر یو پر خپله ټیکی اوراپږی.

هستی کوی مستی، نیستی کوی سستی.

هسی مه کوه انسانه، چه زوی ګران کې، لور ارزانه.

هغه بنده به څه کړی، چه خدای یی زیرمه نه کړی.

هغه آش، هغه کاسه.

هغه چرګه مړه شوه، چه بر ګی هګی به یی اچولی.

هغه چه الوځی ټولی چوغکی دی.

هغه خوردی ارمان نه کړی، په دوړو ږوی واده کړی.

هغه درك، هغه خرك.

هغه ساعت، هغه مصلحت.

هغه سړی نه دی، چه له ځانه خبر نه دی.

هغه سپی دی خوری، چه پېژنی دی.

هغه شپې لا ړی، چه ماا و تا به کړې کړواړی.

هغه چه نن غران کړی، نه یې خپل نه یې خپلوان کړی.

هغه چه کار په عقل کېږی، زور و رته عاجزدی.

هغه ورځی لاړی، چه دی لوکاوه په ولاړې.

هلته به دې زده شی، چه دخوار په حال دې شپه شی.

هلته به دې زده شی، چه په ادرکک بدرگ دی شپه شی.

هلته ځه، چه قدر دې کېږی.

هله به ځار یږم، چه له کاره وزکار یږم.

هله به خبر شی، چه تا رو جبی له ورشی.

هم اوړه پیئی، هم اور پو کی.

هم بوره، هم بد نامه.

هم ودیږی، هم رقصیږی.

هم درخخه مرم، هم در پسی مرم.

هم دسین داغاړه پیایی، هم هغه غاړه.

هم یې پر میخ وهی، هم یې پر نال.

هم یې سکڼی، هم یې رغوی.

هم ئې کړې، هم ئی ریبې.

هندو پیسې ککڼی، پښتون قیصی ککڼی.

هندوخه وهلی، خه سر تور کړی.

.. هندو بې ګوړې نه وی.

هندو زوړ شو، مسلمان نه شو.

هندو ګوړې په خوب وینی.

هندو ستړی، خدای ناراضه.

هندو مې پلک نه دی لیدلی.

هېڅه د شرمښګۍ نه لری، لاس ښامد ته اچوی.

هوږه مې خوړلې ده، په ځان مې ازمویلې ده.

هوسۍ پخوا هم د غرو وه، مګر چه ګینګړی یې تر غاړه
شو ل د غرو خوکو ته وخته.

هوسۍ هسې هم ترنده وه، چه ګینګړی ورته واچاوه
لا ترنده شوه.

هوسۍ هوا د غرو وهی، وا نه د سیمې خوری.

هوښیاران، زهر د تریاکو په ګومان نه خوری.

هوښیار ته اشاره ده، ناپوه ته ټنلوه.

هوښیار نه غوزار پرې، چه غوزار شی غبرګ غاښونه
یې وځی.

هوښیار مرغه په دوو لومو بندیږی.

هوښیاره مرغۍ په دوو لومو کښې نښلی.

همسا غل مه بوله، خپل کوردی ساته.

هم بوری ژاړی هم وراری.

هېڅوک نه وایی چه زما د غړکې خوند بد دی.

# ی

یا اناوهی، یا غړ کې خیري .

یا بر چمر کنلهٔ دی، یا کافر دلیکنلهٔ دی .

یا به تخت، یا به تخته شی .

یا به تخت وی، یا تابوت .

یا به کولاله ونیسی، یا به مالداره ونیسی .

یا به یې کولاله کړی، یا به ئې مالداره کړی .

یا به هیڅ په ساروان وی، یا په کاروان .

یا د به دې زه کړم، موږ به دې خدای کا .

یا د چا ودې پښې ژړاوی یا د کوڼهٔ ښځې .

یا د چلم سر، یا د پلاو بېخ .

یا د خدای قدرت دی، یا د میړو غیرت دی .

یا د مور تی دی، یا د چلم نی .

یا دمې تهٔ که، موږ به مې خدای .

یارانه، پوه به جا له .

یار تر کوخې تېر که، رنګ ئې هېر که .

یار تر ما پورې رنګ ژېړی ښه دی، نه زه تر یاره .

یار چه ځایی شی، رنګ د ې ورک شی .

یار مېلمی لره دی ، دوست تنګی لره دی .

یار دیار دپاره خوری دغوا یی غوښې .

یاری چه په شو تالو شوه ، نو و نه شوه .

یالو یو کورو ته ورځه ، یالو یو غروته .

یامړ ، یامور ، یاجنګ پرغوا یی سپور .

یامې ابا بوله، یاکټوه ماتوم .

یانه کوی ، یادخره کوی .

یانه ځم ، یامنلې وهم .

یانیك پلو ، یانیك جلو .

یاووړ پوښته، یازوړ .

یاوینه ژاړی ،یا مینه .

یایار شه ، یا بېزار شه .

یتیم ته یونس مستې هم پسرلی دی .

یتیم په ژړا عادت دی .

یخ دې تنه کار دی ، زوړ مېړه پکار دی ، ځوان مېړه ناتار دی .

یرحمك الله ، هم ځای لری .

یره سمې ته نه راتله ، او ملا غره ته نه ته .

یو انار ، او سل بیمار .

یو بهلول یو یې کند ، یو یې کچکول .

یوه بلا بلې ته وایی چه بو .

یو به مړ نه شی ، بل به موړ نه شی .

یو پټی شپشتې ئې وخوړې ، وایی دالا مړه ده .

یو په اوښکو ژاړی ، بل په وینو ورسره ژاړی .

یو په ست ښه ایسی ، بل په پټ .

یو په سلمه ، سل په هیڅ .

یو تنها به دې سفروی ، یا به غم یا به اختر وی .

یو ټك دې دارو نشته ، پر ځان دې غومباره نوم ایښی دی

یو څه زه لنډیم ، یو څه می د بنی کوړی اوږدی .

یو ځان شرموی ، بل قام .

یو د لوږې مړ کیږده ، بل ئې سر ته پراټې کښلی .

یو د یګی ، ټول کندی .

یو زوی ، نه زوی .

یو سر ، نه سر .

یو ښار ، اودوه نرخه .

یو کار وکړه ، چه سل وار زی .

یو لاس دې خدای هغه بل ته نه اړوی .

یو لاس په چاړه ، بل خواړه .

یو لموڼځ په هفته کښې ، هغه هم په ماښته کښې .

یو موټی دې اوړه نشته ، سل دې تنروزه دی .

یو نس ، دوه منته .

یو نوکی غیرت ،، ترسلو میړونه وی .

یو وار یې شل کړه ، بیا یې په جوال کښې واچوه .

یو وار چه زوړ شی ، بیا خدای خبر چه جوړ شی .

یو وایی مریی دې یم ، بل دې فکر وکړی چه په ځومې اخستی دی .

یو وایی مریی دې یم ، بل یې نو په بازار نه خرڅوی

یو وار مرګی وای ، خو بیا لیده وای .

یوه پر تناره خوری ، یوه پر زنګانه خوری یوه چه کښېنی بیاهله خوری ، داخواره نوځه خوری ؟

یوه چاړه چه دوې کې ، داچاره به په پرې کی .

یوه کور خرڅاوه ، بل په پور غوښته .

یوه دړه اور نه کا ، دوه بڼی کور .

یوه رښتیا رښتیا ویل ، په سمه کښې یې ځای نه ؤ .

یوه ژرنده ځتله ، بل ئې لډی ځتله .

یوه سترګه پر دین ، یوه پر دنیا .

یوه شپه دمور دمېړه سره هم تېرېږی .

یوه غو ښڼۍ که هواره شی ، څو څوک نه به ډک شی

یوه کوه ، یوه اوره .

یوه لوېشت ناوکی ، دوې لوېشتې یې کوشی .

یوه مېړه وښه تر سلو کوڼو ښه ده .

یو ، منه واچوه ، تر بلې بیا خدای .

یوه کلهه د بلې زړه کاږی .

PROPERTY OF ACKU 30816

یو یې خوری ، بل ورته مری .

یو ئې واهه ، بل پرې په نازېده .

یو یې ګټی ، سل یې څټی .

یو یې ژ نده ماتوی ، بل یې پارچاو اړوی .

یو یې بروهی ، بل یې رېښی .

یو یې سروهی ، بل یې پلې .

یو یې بزی پیایی ، بل یې ګاړې څټی .

یوې بلا بلې بلا ته ویل : اوخ .

یوې دغمه ژړل ، بلې له خوشالۍ ورپورې خندل .

یوې ښېښې وبلې ته ، ویل نه ځم .

یوې ناوې ا ینګی کاوه ، ښه ئې زګیروی ناوه .

یه باید یه وی ، هو باید هو !

ینې مې خوړې ، سرې وینې ترې تلې .

# د کتاب د ویونکو سره!

څه رنګه چه د یو کتاب په لوستلو کښې سم ویل دیر اهمیت لری له دې کبله له لوستونکو څخه هیله کیږی چه د کتاب تر ویلو دمخه داسمون وګوری او بیایی ولولی .

| مخ | لیکه | ناسم | سم |
|---|---|---|---|
| (٥) | ١٣ | (٢٧٩) | (٢٧٧٠) |
| ١٣ | ٤ | بلهای له خوراه ... | بلهای له خواره ... |
| ٤٠ | ٥ | چټه چه زوړوینی - | چټه چه زوړوو ینی |
| ٤٠ | ٧ | چرت یی واه | چرت یی واهه |
| ٨٩ | ١١ | د نیا بلبل ه ... | د نیا بلبل ده ... |
| ٩٨ | ٣ | رنګ یی د ملاعمو ... | رنګ یی د ملا عمل ... |
| ١٠٠ | ١٣ | زړه بل وی | زړه بو وی |
| ١٠٣ | ١ | زوم د خوسر . | زوم یی د خوسر ... |
| ١٠٦ | ٤ | ساپی سمسکی | ساپی سم سمکی |
| ١١٩ | ٨ | عشق او مشکل . | عشق او مشك ... |

| مخ | ليكه | ناسم | سم |
| --- | --- | --- | --- |
| ١٢٣ | ٣ | فقيره كوردى چيردى ... | فقيره كو ر دێ چيرى دى ... |
| ١٣٢ | ٩ | كەددبيديا كاهى پاستەواى ەكيدڕانو پەوهم نەواى ... | كە د بيد يا كاهى پاستەواى ەكيدڕانو بەهم نەواى ... |
| ١٣٣ | ١٣ | كە غر لوى دى پەسرىى زە لارەدە ... | كەغرلوى دى پەسرىى لارە دە ... |
| ١٣٨ | ٦ | لرى مەحە نژدى ونگوره | لرى مە ځە نژدى وگوره |
| ١٣٩ | ١٥ | لكەداسمان كتٍ دچە - شپى پيداشى دورځى ... | لكەداسمان كتٍ چە دشپى پيداشى ... |
| ١٤٩ | ١ | مرروددوى برځى لرى - | مرور دوێ برخێ لرى |
| ١٥٦ | ١ | نر زوى پە رونى كبنى ... | نر زوى پە ور نهى كبنێ ... |
| ١٥٨ | ٥ | نە دنبە حالە الوت شتە ... | نە د نبەحالە الواتە شتە ... |
| ١٦٨ | ٢٠ | همساغل مە بولا ە | همسايەغل مە بولە |

# Da Pashto Matalona

## *PASHTO TOLANA*

***1344***

دولتی مطبعه